٤

د افغانستان اسلامي امارت

ستره محکمه

# قضاء




د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې درې میاشتنۍ مجله

دویم کال، څلورمه ګڼه (رجب المرجب، شعبان المعظم او رمضان المبارک) ١٤٤٥ هـ ق / ١٤٠٣ هـ ش

د تأسیس کال ۱۳۰۹ هـ ش

# قضاء

شرعي- قضائي - حقوقي

د افغانستان اسلامي امارت د ستري محکمي دري

میاشتنۍ مجله

دویم کال، ځلورمه گڼه (رجب المرجب، شعبان المعظم او رمضان المبارک) ۱۴۴۵ هـ ق / ۱۴۰۳ هـ ش

د تأسیس کال ۱۳۰۹ هـ ش

د امتیاز څښتن: ستره محکمه خپروونکی :د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

**کتنپلاوی**

شیخ محمد قاسم «راسخ»
مفتي عبدالرشید «سعید»
مفتي محمد حسین «کوثري»

مسؤول مدیر: مولوي عبدالرحیم «راشد»

پته: د عامې روغتیا څلور لارې، نهمه ناحیه، ستره محکمه، کابل - افغانستان
د اړیکې شمېرې: ۲۳۰۰۳۶۱_۲۳۰۲۲۶۳
برېښنالیک: publications.sc1443@gmail.com
ویب سایټ:www.supreme court.gov.af

بسم الله الرحمن الرحيم

## د مطالبو لړلیک:


سرمقاله: ........ اداره ........ ۱

د قضاء تاریخ له نبوي دورې څخه تر اسلامي امارته ........ مولوي عبدالرحیم «راشد» ........ ۲

د حنفي مذهب لنډه پېژندنه ........ شیخ الحدیث مولوي محمد عمر «خطابي» ........ ۸

قضاء او معاصر قرائن/دویمه برخه ........ مولوي ذبیح الله«سیلاب» ........ ۱٤

د اسلامي نظام قضائیه قوه د بشپړ عدالت شهکاره ده ........ مفتي محمد عرفان «الهام» ........ ۲۰

افتاء او قضاء /دویمه برخه ........ مفتي محمد گل «سعید» ........ ۲۲

د سترې محکمې له قضائي معاون صاحب سره د اسلامي عدالت ځانگړې خپرونه ........ ۲۸

گزارش اجرآت قضائی و اداری ستره محکمه ........ اداره ........ ۳۱

# سرمقاله: د لوی او مهربان څښتن تعالی په ستر نامه

ستره محکمه چې د افغانستان اسلامي امارت له مهمو ارګانونو څخه یو مهم او لوی ارګان دی او په هیواد کې د عدالت د تأمین، مجرمینو او متهمینو ته د اسلامي شریعت مطابق د سزا ورکولو مهم مسؤولیت لري.
د افغانستان اسلامي امارت سترې محکمې په تشکیل کې د هیواد ټول محاکم درې مرحلې لري (ابتدائیه مرحله، مرافعه مرحله او تمیز مرحله)، ترتیب یې داسې دی چې کله یو کس د خپل حق غوښتنه کوي د خپلې ولسوالۍ یا مرکز اړوند ابتدائیه محکمې ته به د رسمي عریضې لپاره مراجعه کوي، عریضه کې به ټول هغه موارد ذکر کړي چې نوموړی یې د خپل حق غوښتنې لپاره لازم ګڼي، وروسته به خپله عریضه ابتدائیه محکمې ته سپاري، اړوند ابتدائیه محکمه به د نوموړي عریضه په دقت ګوري او د دعوی دواړه لوري (عارض او معروض علیه) راغواړي، له دوی د موضوع په اړه تحقیقات کوي بیا د شریعت او اسلامي امارت د اصولو مطابق د دوی د دوسیې په اړه پرېکړه صادروي، که له جانبینو کوم یو د ابتدائیه محکمې په پرېکړه راضي نه وي نو کولای شي مرافعه طلبي وکړي او مرافعه محکمې ته عریضه وکړي، داسې واضح کړي چې ولې د ابتدائیه محکمې په پرېکړه رضایت نه لري؟ مرافعه محکمه یې عریضه ګوري که فرضاً د ابتدائیه محکمې پرېکړه کې نواقص موجود وي مرافعه محکمې یې اصلاح او د شریعت مطابق فیصله کوي، که په دې مرحله کې هم یو له جانبینو راضي نه وي کولای شي تمیز محکمې ته مراجعه وکړي او یاده محکمه هم د خپلو اصولو مطابق د دوی قضیې بررسي او رسېدنه ورته کوي.
د اسلامي امارت درې ګونې محکمې د شرعي احکامو د تطبیق او د قضایاوو په اړه د شرعي فیصلو صادرولو پر مهال د هېڅ داخلي او بهرني فشار تابع نه دی؛ بلکې په بشپړ استقلال او خپلواکۍ د شریعت په رڼا کې د مراجعینو دوسیې فیصله کوي، حق حقدار ته ورکوي، د ظالم د ظلم مخنیوی کوي او مظلوم ته یې حق رسوي.
د افغانستان اسلامي امارت سترې محکمې د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست د قضاء مجلې په څلورمه ګڼه کې هم د هیواد د تکړه لیکوالانو او علماء کرامو علمي او قضائي لیکنې او د ۱۴۰۲ هـ ش کال د څلورمې ربعې قضائي او اداري خلاصه راپور تر تاسو قدرمنو لوستونکو در ورساوه ترڅو تاسو قدرمن هیوادوال پرې خبر او پر محاکمو مو باور لا ډېر او قوي شي.
د قضاء مجلې په څلورمه ګڼه کې چې تاسو یې اوس مطالعه کوی د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د قضاء څرنګوالی، د حنفي مذهب لنډه پېژندنه، قضاء او معاصر قرائن، د اسلامي نظام قضائیه قوه د بشپړ عدالت شهکاره ده، افتاء او قضاء تر عنوان لاندې علمي لیکنو سربېره د سترې محکمې له قضائي معاون محترم شیخ محمد قاسم (راسخ) سره د اسلامي عدالت ځانګړې خپرونه لوستلای شئ.
دغه راز به د مجلې د دې ګڼې تر پوره مطالعې وروسته په دې پوه شئ چې د افغانستان اسلامي امارت درې ګونو محاکمو د روان هجري شمسي کال په څلورمه ربعه کې څومره حقوقي او قضائي دوسیې حل او فصل کړې دي او په همدې موده کې د هیوادوالو د تقاضا مطابق څومره وثیقې اجرا شوې دي.

**په درنښت**



# د قضاء تاریخ له نبوي دورې څخه تر اسلامي امارته

## څلورمه برخه

لیکوال: قاضي القضات شیخ عبدالحکیم (حقاني)[1]
ژباړن: مولوي عبدالرحیم (راشد)[2]

**د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د قضاء څرنګوالی:**

د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د قضاء د څرنګوالي لوري ته په هغه صحیح حدیث شریف کې اشاره شوې ده کوم چې ام سلمې (رضي الله عنها) روایت کړی دی، دا فرمایي: له انصارو څخه دوه کسان رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته راغلل ترڅو د هغوی ترمنځ چې د میراث په سر کومه شخړه منځته راغلې ده، حل کړي او د دوی ترمنځ هېڅ ثبوت نه وو، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل: تاسو ماته خپله شخړه د حل په موخه وړاندې کړله، زه به ستاسو ترمنځ د هغه څخه په اړه قضاوت کوم چې زه یې اورم، نو د چا لپاره چې زه د هغه د ورور له حق څخه پرېکړه وکړم هغه دې نه اخلي، دا ځکه چې ما ورته د اور یوه ټوټه ورکړه، هغه به یې د قیامت په ورځ غاړې ته اچول شوې وي، نو هغه دوه کسان په ژړا شول او هر یوه وویل: چې زه خپله برخه خپل ورور ته ورکوم .

نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وویل: اوس چې تاسو دا خبره وکړه، نو دواړه ولاړ شئ او خپل میراث سره ووېشئ، د هر یوه حق او برخه جلا کړئ او هر یو دې خپله برخه واخلي. [ رواه احمد فی مسنده رقم (٢٦٧١٧)]

**لیرې پرتو سیمو ته د قاضیانو او والیانو لېږل:**

کله چې د اسلامي دولت د واک سیمه پراخه شوه، دا اړین کار وګڼل شو چې بېلا بېلو لیرې پرتو سیمو ته باید والیان ولېږل شي، ترڅو د ولایت د نورو چارو د سمبالښت سره د قضاء چارې هم په صحیح توګه ترسره کړي، نو د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) له لوري علي (رضي الله عنه) یمن ته ولېږل شو او ورته وویل: «دوی (د یمن اوسېدونکو) ته شرعي احکام وروښایه او د دوی ترمنځ پرېکړې کوه».

علی (رضي‌الله عنه) وویل: ماته خو د قضاء اړوند هېڅ علم نشته؟ رسول الله (صلی‌الله علیه وسلم) پر سینه ضربه ورکړه او وویل: اې الله (جل جلاله)! ده ته د قضاء چارې وروښایه.

١- د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې رئیس

٢- د سترې محکمې د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو رئیس

او علي (رضي الله عنه) ته يې د قضاء طريقه ورووښووله.

لکه څرنګه چې د ابوداؤد په هغه روايت کې چې حنش له علي (رضي الله عنه) څخه روايت کړی دی ، علي (رضي الله عنه) وايي: کله چې رسول الله (صلى الله عليه وسلم) زه يمن ته د قاضي په توګه لېږلم، نو ما ورته وويل: اې د الله تعالی رسوله! ته ما د قاضي په توګه ليږې، په داسې حال کې چې زه نوی ځوان يم او د قضاء په اړه راته هېڅ علم نشته؟ نو رسول الله (صلى الله عليه وسلم) وويل: الله تعالی به ستا زړه پر حقې او مستقيمې لارې برابر او ستا ژبه به ثابته کړي، نو کله چې ستا مخته دوه دعوه کوونکي کښېناستل تر هغو د دوی ترمنځ پرېکړه مه کوه، ترڅو چې دې د هغه بل کس خبره هم داسې نه وي اورېدلې لکه څنګه چې دې د لومړي کس خبرې واورېدې؛ دا تاته د قضاوت په روښانۍ کې ډېره مناسبه تګلاره ده.

علي رضي الله عنه وايي: نو زه تل پر حق پرېکړه کوونکی پاته شوی يم اويا يې داسې وويل: له دې وروسته په هېڅ پرېکړه کې زه نه يم شکمن شوی. [ رواه أبو داؤد، رقم ( ۳۵۸۳) باب كيف القضاء )

ابن اسحاق يو روايت ذکرکړی دی، چې رسول الله (صلى الله عليه وسلم) ابو عبيده بن جراح (رضي‌الله عنه) نجران ته د قاضي په توګه ولېږه، کيسه داسې وه چې د نجران يوه پلاوي له رسول الله (صلى‌الله عليه وسلم) څخه وغوښتل چې د خپلو اصحابو له ډلې څخه يو داسې سړی راوغواړي چې له هغه څخه دی راضي وي، تر مينځ په هغه مسايلو کې پرېکړه وکړي چې دوی اختلاف پکښې لري؛ نو رسول الله (صلى الله عليه وسلم) ابو عبيده (رضي الله عنه) راوغوښتی او ورته وويل: له دوی سره ولاړ شه او په هغه څه کې چې دوی اختلاف لري، د دوی ترمنځ په حق سره پرېکړه وکړه [الادارة في عهد الرسول (صلى الله عليه وسلم)(۲۳۹۱)]

او همدارنګه رسول الله (صلى الله عليه وسلم) عتاب بن اسيد (رضى الله عنه) د مکې له فتحې څخه وروسته د مکې پر اوسېدونکو د والي او قاضي په توګه وګماره. همدارنګه رسول الله (صلى الله عليه وسلم) علاء بن حضرمي (رضي الله عنه) ته د نجران د قضاء چارې وسپارلې او ده ته يې يو لوی ليک وليکه چې د ولايت او قضاء ټولې چارې يې پکښې ورښوولې وې .

**د نجران تازه ګمارل شوي قاضي علاء بن حضرمي (رضي الله عنه) ته د رسول الله (صلى الله عليه وسلم)ليک:**

دا ليک د عبدالله د زوی محمد (صلى الله عليه وسلم) چې أمي، قريشي او هاشمي لقبونه کوي، د الله تعالی داسې پيغمبر چې د ټولو خلکو لپاره را لېږل شوی دی، و علاء بن حضرمي او هغو مسلمانانو ته دی، چې له هغه سره يې تړون کړی وي.

اې مسلمانانو! څومره چې مو وس وي د الله تعالی څخه وېره او پرهېزګاري کوئ، په تحقيق سره ما تاسو ته علاء بن حضرمي درولېږی، هغه مې په دې امر کړی چې د هغه ځښتن څخه دې ووېرېږي چې يو دی او شريک نه لري، په نرمۍ سره تاسو ته برياوې راوړي، په نېکې طريقې سره دې غوره اخلاق ستاسو منځ کې خپاره کړي، ستاسو او د هر هغه چا ترمنځ چې ورسره مخ کېږي، په هغه انصاف پرېکړې وکړي کوم چې الله تعالی په خپل کتاب کې بيان کړي دي.

همدارنګه تاسو ته امر کوم کله چې هغه پورته شيان ترسره کړه، نو تاسو به د ده اطاعت او پيروي کوئ.

هغه تقسيم وکړ او په حقه تقسيم، نو تاسو د مهربانۍ غوښتنه کوئ، ترڅو مهرباني دربانديې وشي. تل يې خبرې اورئ، پيروي يې کوئ او په ښه توګه يې ملاتړ او مرسته کوئ، ځکه زه پر تاسو د اطاعت لوی حق لرم او تاسو د هغه ټولو د ترسره کولو توان نه لرئ، نو په تاسو ځانګړی واجب حق دادی چې د ده (مسؤول شخص) اطاعت او په خپلو وعدو وفا وکړئ.

بله خبره دا ده چې ولس پر خپلو مسؤولينو لازمه پيروي او حقوق لري، نو الله تعالی دې د هغو کسانو څخه خوښ شي چې په پيروي يې منګولې ښخې کړې وي، د خپل ولس او مسؤولينو حق يې لوړکړی وي؛ ځکه د پيروۍ له برکته هر خير چې انسان يې په لټه

کې وي، ترلاسه کولای یې شي او د هر شر څخه ځان ژغوري، خلاصون موندلی شي او زه الله تعالی په هغه چا شاهد جوړوم، چې ما دی د مسلمانانو په لړ یا ډېرو چارو مسؤول گرځولی وي؛ خو دی عدل او انصاف ونه کړي، نو په هېڅ صورت کې د ده پیروي نشته او هغه د خپل مسؤولیت څخه نور خلاص دی، همدارنگه هغه مسلمانان چې له ده سره وه، هغو هم د خپلو ژمنو او وعدو څخه خلاص دي، په دې وخت کې دې د الله تعالی څخه مرسته وغواړي او داسې څوک دې له خپلو منځونو څخه وټاکي چې غوره او نېک شخص وي.

دا خبره هم واورئ که چېرې علاء بن حضرمي (رضي الله عنه) ته څه ستونزه پېښه شوه، نو د ده ځای ناستی د الله تعالی توره خالد بن ولید (رضي الله عنه) دی، نو تر هغه د ده هم پوره خبره اورئ او پیروي یې کوئ ترڅو تاسو ته معلومیږي چې دی پر حق مسیر روان دی، که چیرې له حقې لارې څخه واوښتی، نو د الله عزوجل په برکت، مرستې، لاسنیوي، ودې، عافیت او توفیق سره مزل کوئ، که چېرې له تاسو سره کوم څوک مخامخ کېږي نو د الله (جل جلاله) له لوري نازل شوی کتاب، د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سنتو ته یې رابولئ، په کتاب الله کې چې کوم څه حلال گرځول شوي د هغو د حلالوالي او کوم څه چې حرام گرځول شوي د هغو د حراموالي ترغیب ورکوئ، د بتانو له عبادت څخه یې منعه کړئ، له شرک او کفر څخه یې بېزاره کړئ. د لات، عزی او شیطان عبادت څخه یې زړه توري کړئ.

همدارنگه یې د عیسی ابن مریم، عزیر بن حروة، ملائکو، لمر، سپوږمۍ، اور او د هر هغه شي چې دوی د الله تعالی ضد گرځولي دي، پوره پرهېز دې ترې وکړي او په هرڅه کې دې الله او د هغه رسول (صلی الله علیه وسلم) پسې اقتداء کوي، له هر هغه څیز څخه دې بېزاره واوسي چې الله او د هغه رسول (صلی الله علیه وسلم) ترې بېزاره دی، نو کله یې چې دا کارونه ترسره کړل، اقرار یې وکړ او په ولایت کې داخل شول نو دوی ته هغه څه روښانه کړئ چې په کتاب الله کې راغلي وي او تاسو یې ورته رابولئ.

دا د الله تعالی هغه سپېڅلی کتاب دی، چې د روح الأمین (جبرائیل علیه السلام) په واسطه د دې نړۍ په غوره شخصیت محمد بن عبدالله نازل شوی دی.

هغه محمد چې د الله (جل جلاله) بنده، نبي او رسول دی، چې ټولو مخلوقاتو ته یې د رحمت په توگه لېږلی دی، هغه که انسانان وي او پېریان، سپین وي که تور.

د الله تعالی په یاد کتاب کې له تاسو څخه د مخکنیو او راتلونکو کسانو کیسې شته، ترڅو د خلکو ترمنځ یو مانع وي او الله تعالی د دغه کتاب په وسیله ځیني له ځینو ساتي او دې کې د ځینو څخه مخ گرځونه هم شته او دا هغه کتاب دی، چې پر نورو کتابونو غالب دی او د هغه شیانو چې په تورات، انجیل او زبور کې راغلي دي تصدیق کوونکی دی، په دې کې الله تعالی تاسو په هغه شیانو خبروي چې ستاسو څخه مخکې پېښ شوي، هغه څه چې تاسو یې د خپلو پخوانیو پلرونو په اړه معلومات نه لرئ، کوم چې د الله تعالی نبیانو او رسولانو دوی ته راوړي وه، چې بیا د دوی ځواب ځنگه ورته وو، ولې یې رالېږلې وه، د الله تعالی په آیاتونو د دوی تصدیق او دروغ گڼل ځنگه وو، نو الله تعالی په خپل کتاب کې د دوی حالت او عمل بیان کړی او همدارنگه یې د هغه کسانو حالت بیان کړی چې د دین له امله هلاک شوي دي، چې ځانونه ځنې وساتي او د دوی په څېر عملونه ونه کړي، تر څو د الله تعالی د کتاب له مخې تاسو د عذاب، غوسې او انتقام مستحق نه شئ، د هغه کسانو په څېر چې د خپلو شومو اعمالو او د الله تعالی په امرونو کې د غفلت له امله یې وړ گرځېدلي وه.

الله تعالی په خپل کتاب کې دا ټول حالات تاسو د خپلې ځانگړې مهربانۍ او شفقت له مخې بیان کړې دي، دا کتاب د گمراهۍ څخه د نجات، د پټوالي څخه ښکاره والي، د سختۍ څخه آساني، د فتنو څخه خلاصون، د تیارې څخه روښنایي، د پېښو څخه رغونه، د تباهۍ څخه ژغورنه، د سرکشۍ څخه سمه لاره، د گډوډۍ څخه وضاحت، د دنیا

او آخرت ترمنځ د هر شي واضح کوونکی لاربښود دی.
یاد کتاب کې ستاسو د دین پوره والی نغښتی دی، نو کله چې تاسو پر دوی عرض کړل او دوی هم اقرار پرې وکړ، نو خپل ولایت نور هم تکمیل کړئ او دوی ته اسلام باندې مشرف کېدل وړاندې کړئ، چې اسلام بیا عبارت دی: د لمونځ ادا کولو، زکات ورکولو، حج ترسره کولو، د رمضان میاشتې روژې نیولو، د جنابت څخه وروسته غسل کولو، د لمانځه مخکې د اوداسه تازه کولو، د والدینو سره نېک چلند کولو، د مسلمانانو سره صله رحمي کولو، د ټولو حتی د مشرک مور او پلار سره د ښه ګذارې کولو څخه.
کله چې یې دا هم ترسره کړل، نو دوی اسلام راوړ، بیا نو ددې وروسته یې ایمان ته راوبلئ، همدارنګه دوی ته د اسلام شعائر او نښې وښایاست.
ایمان بیا عبارت دی: ددې ګواهي ورکول چې د الله عزوجل پرته بل د عبادت وړ څوک نشته، یګانه ذات دی او هیڅ شریک نه لري او بېشکه محمد(صلی الله علیه وسلم) یې بنده او پیغمبر دی، همدارنګه محمد(صلی الله علیه وسلم) چې په څه راتګ کړي، ټول حق دي او د هغه پرته ټول باطل دي، همدارنګه په الله، په ملائکو، کتابونو، رسولانو او نبیانو یې، د آخرت په ورځ، په موجوده کتاب( قرآنکریم) او مخکنې کتابونو یعنې تورات، انجیل او زبور باندې، همدا راز د مرګ څخه په بیا ژوندن او پاڅېدو، د قیامت د ورځې په حساب، جنت، دوزخ، مرګ او ژوند ایمان لرلو نوم دی؛ نو کله چې یې په دې اقرار وکړ او ترسره یې کړل، نو دوی مسلمانان او مؤمنان شول.
له دې وروسته احسان ور وښایاست او دا ور زده کړئ چې احسان دا دی چې هغه امانت ښه ادا کول، کوم چې ستاسو او د الله تعالی ترمنځ دی او هغه وعده ترسره کول کوم چې یې د پیغمبرانو سره کړې، همدارنګه د پیغمبرانو تړون چې د خلکو او عامو مؤمنانو سره یې کړی، همداسې د ژبې او لاس د هرې فریبکارۍ څخه د مسلمانانو ژغورنه او د نورو مسلمانانو لپاره هغه څه غوښتل کوم چې د ځان لپاره غواړې، د رب وعدې او ملاقات رښتینې ګڼل، د دنیا څخه په هره شېبه کې په مرګ باور درلودل، همداسې شان د هرې ورځې او شپې په تېرېدو د خپل نفس سره حساب کول، په شپه او ورځ کې زیار کښل او هغه څه چې الله تعالی یې د ادائینې حکم کړی دی په پټه او ښکاره یې ادا کول، کله چې یې دا هم ترسره کړل، نو دوی نېک، مؤمن مسلمانان شول.
بیا دوی ته لوی ګناهونه بیان، مشخص او د لویو ګناهونو د هلاکت څخه یې ووېروئ، ځکه لوی ګناهونه تباه کوونکي دي، چې تر ټولو لومړی لویه ګناه هغه د الله تعالی سره شریک نیول دي، ځکه الله تعالی فرمایي:» الله تعالی هغه څوک نه بخښي چې له ده سره یې شریک نیولی وي». بله لویه ګناه سحر او جادو دی او جادوګر لره هیڅ برخه نشته، بله لویه ګناه صله رحمي پرې کول دي، چې یاد کسان د خدای له رحمت څخه لیرې دي، بله لویه ګناه د جګړې میدان څخه تېښته ده او الله تعالی د دوی په اړه فرمایي:» دا کسان د الله تعالی په غضب اخته دي». همدارنګه بله لویه ګناه خیانت کول دي، الله تعالی یې په اړه فرمایي:» د قیامت په ورځ به هغه شی چې خیانت یې پکښې کړی په غاړه کې به یې طوق سوی وي». همدارنګه مؤمن کس ناحقه وژل لویه ګناه ده، چې ددې سزا دوزخ دی او بله لویه ګناه په پاک لمنو ښځو تهمت تړل دي، دا کسان دنیا او آخرت کې د الله تعالی له رحمته لیرې دي او بله لویه ګناه د یتیم مال خوړل دي، چې الله تعالی یې په اړه فرمایي:» په حقیقت کې هغوی خپلې ګېډې له اوره ډکوي او هغوی به هرو مرو د دوزخ تاوجن اور ته ورننوځي». او همدارنګه بله لویه ګناه سود خوړل دي، چې الله تعالی یې په اړه فرمایي:» نو خبر اوسئ چې د الله او د هغه د پیغمبر له خوا ستاسې پر خلاف د جګړې اعلان دی».
کله چې یې ځانونه له لویو ګناهونو څخه وژغورل نو دوی نېک، پرهېزګار، مؤمن مسلمانان دي.
بیا یې دغسې عبادت ته وهڅوئ، عبادت عبارت دی له روژو، قیامې، خشوع، عاجزي، رکوع، سجدو، غاړه اېښودو، یقین، خاکسارۍ،

تحليل( لا اله الا الله)، تسبيح (سبحان الله)، تحميد(الحمد لله)، تكبير(الله اكبر)، د زكات پرته خيرات، تواضع، سكون، همدردي، دعاء، نفس كشتكگي، د (الله) د باچاهۍ او (خپل) د بندګۍ اقرار كول او د ډېرو نېكو كارونو په ترسره كولو كې خپلواك اوسېدل. كله چې يې دا كارونه ترسره كول، نو دوى عبادت كوونكي، پرهېزګار، نېک او مؤمن مسلمانان دي.
او كله چې يې عبادت هم پوره ترسره كړ، بيا يې جهاد ته راوبلئ، جهاد ورته تشرېح كړئ او د الله تعالى په نزد د جهاد فضيلت همدارنګه د الله له لوري جهاد ته د ترغيب اړوند دوى وهڅوئ، نو كله چې يې دا پوره كړل، بيا بيعت ورسره وكړئ او دوى هم راوبلئ ، تر څو د الله او د هغه د رسول (صلى الله عليه وسلم) طريقو باندې بيعت وكړي.
په تاسو د الله تعالى تړون او وعده ده، چې هغه اووه تضمينونه دي، په دې معنى چې الله جل جلاله ددې اوو تضمينونو د بشپړېدو ضامن دى، هيڅكله بيعت مه ماتوئ او د مسلمانانو د هيڅ امير امر مه غورځوئ، نو كله چې يې په دې اقرار وكړ، بيا بيعت ورسره وكړئ او د دوى لپاره د الله څخه د بخښنې طلب وكړئ، كله چې د الله تعالى په لاره كې د جګړې لپاره ووتل د الله د غوسې سرولو او د اسلام دين د نصرت په موخه، نو كله چې د چا سره مخ شول نو هغوى دې هغه څه ته راوبلل شي، چې د الله له كتاب څخه ورته رابلل شوي وه، همدارنګه د اسلام، ايمان، احسان، تقوا، عبادت او جهاد بلنې وركړئ، نو د هغوى څخه چا چې ددې شيانو پيروي وكړه، نو دا تر ټولو لوى هڅول شوى مسلمان، مؤمن، نېک، پرهېزګاره او عبادت كوونكى مجاهد دى، د دوى لپاره هغه څه دي كوم چې ستاسو لپاره دي او چا چې ددې څخه ډډه وكړه، نو هغه سره جګړه وكړئ، تر څو چې د خداى حكم او دين پوره منې او چا سره چې تاسو تړون وكړ او د الله تعالى ذمه مو په غاړه وركړه، نو هغه ورسره پوره كړئ، چا چې اسلام قبول كړ او تاسو ته يې ډاډ او خوښې دركړه، نو هغوى له تاسو او تاسو له هغوى څخه ياست.
او چا چې د دې شيانو د اورېدلو وروسته بيا هم ستاسو سره جګړه كوله، نو هغه ووژنئ او څوک چې ستاسو سره اړيكې پرې كوي د هغوى سره وجنګېږئ، چا چې سازش درته وكړ نو سازش ورسره وكړئ، چا چې ډلې درته راوايستل، ډلې وروباسئ، چا چې مخ در څخه واړوه نو مخ ورڅخه واړوئ او چا چې دوكه درسره وكړه، دوكه ورسره وكړئ، خو تر حد تجاوز مه كوئ، چا چې فريبكاري درسره وكړه، نو د فريبكارۍ ځواب يې وركړئ، بېله دې څخه چې د اندازې څخه تېرى وكړئ، هغه كه په ښكاره وي او يا په پټه، ځكه كوم كسان چې د ظلم وروسته د ځان دفاع كوي د هغوى لپاره هيڅ لاره نشته. په دې پوه شئ، چې الله تعالى له تاسو سره دى، تاسو او ستاسو كړنې ويني او په هغه كارونو خبر دى، چې تاسو يې ترسره كوئ، نو د الله تعالى څخه ووېرېږئ او په احتياط قدم اخلئ، ځكه چې دا داسې امانت دى چې زما د پالونكي لخوا ماته د امانت په توګه سپارل شوى دى، زه يې د الله بندګانو ته رسوم د عذر غوښتنې په موخه او د الله تعالى له لورې په هغه ټولو خلكو يو حجت دى كوم چاته چې دا امانت رسېدلى وي، چا چې په هغه شيانو عمل وكړ چې په ياد امانت كې وه، نو هغه بريالى شو او چا چې يې پيروي وكړه، هغه كس په هدايت شو او چا چې شخړه پرې وكړه، بريمن شو، چا چې جګړه پرې وكړه، كومک يې وشو، چا چې پرېښود، بس ګمراه شو تر څو بيرته رجوع ورته كوي، څه چې پكښې دي زده يې كړئ، په غوږونو يې واورئ، خپل باطن پرې ډک كړئ او زړونه پرې وساتئ، ځكه دا د سترګو روښنايي، د زړونو پسرلى، د روحي ناروغۍ شفاء ده او د يو قوماندان، په نېكيو د امر كوونكي او بديو څخه د منع كوونكي، د الله تعالى او د هغه د رسول (صلى الله عليه وسلم) لورې ته د بلونكي لپاره همدا كافي او شافي دى.
دا هغه خير دى، چې هيڅ شر پكښې نشته، دا د الله تعالى د بنده او پيغمبر محمد (صلى الله عليه وسلم)لورې ليک دى علاء بن حضرمي رضي الله عنه ته كوم وخت چې يې هغه بحرين ته لېږى،



چې هغه به د الله تعالی او د هغه د رسول (صلی الله علیه وسلم) لورې ته خلک رابولي، کوم حلال چې یاد لیک کې یاد شوي، د هغوی د منلو امر به کوي او د حرامو شیانو څخه به منع کوي، د هدایت لارې لارښوونه او د ګمراهۍ لارې څخه ګرځونه به کوي، رسول الله (صلی الله علیه وسلم)یاد لیک د امانت په توګه علاء بن حضرمي او د هغه ځای ناستې د الله توري خالد بن ولید رضي الله عنهما ته وسپاره او دوی داړو او ورسره ټولو مسلمانانو ته چې په یاد لیک کې کوم وصیتونه وه هغه یې ورته ورانـدې کـړه، چې د ضائع کولو لپاره هیڅ عذر نه د امیرانو او نه د مأمورینو ته د منلو وړ دی، یاد لیک انسانانو کې چې چاته ورسېد بیا د هغه هیڅ عذر او دلیل نه منل کیږي او نه د یاد لیک په څېړونو د عدم خبرتیا له امله معذور ګڼل کیږي.

یاد لیک د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د هجرت څلورم کال په دوه میاشتې کم د ذو القعدې دریېمه نېټه لیکل شوی، چې عثمان بن عفان رضي الله عنه به املاء ویل او د ابو سفیان زوی به لیکل، چې دغه مجلس کې رسول الله صلی الله علیه وسلم، مختار بن قیس قرشي، ابو ذر غفاري، حذیفه بن ایمان عبسي، قصي بن ابي عمر حمیري، شبیب بن ابي مرثد غساني، مستنیر بن ابي صعصعه خزاعي، عوانه بن شماخ جهني، سعد بن مالک انصاري، سعد بن عباده انصاري او زید بن عمیر رضوان الله اجمعین، همدارنګه ځینې وکیلان، یو تن د قریش او یو تن د جهینه او څلور تنه انصارو هم شتون درلود، چې بیا هغه لیک رسول الله (صلی الله علیه وسلم) علاء بن حضرمي او د الله تعالی توري خالد بن ولید رضي الله عنهما ته ورکړ.

(دا روایت طبراني فی الکبیر او همدارنګه ابن حجر په مطالب العالیة کې په ۲۱۷۱ شمېره ذکر کړی دی).

همدارنګه نور والیان او استازي یې چې هم لېږل په همدې ډول وو، دوی به د شخړو حل، د احکامو تنفیذ او خلکو ته د اسلام ښوونه هم کول.

ځینې نور والیان چې لېږل شوي دي، هغوی کې عثمان بن ابي العاص طائف ته، مهاجر بن ابي امیه صنعاء ته، یعلی بن امیه خولان ته او زیاد بن لبید رضي الله عنهم حضرموت ته د والي په توګه لېږلي دي.

او کله چې د هجرت په اتم کال رسول الله (صلی الله علیه وسلم) مکه فتحه کړه او بېرته مدینې منورې ته د ستنېدو هوډ یې وکړ، نو عتاب بن اسید رضي الله عنه یې مکه کې د والي او قاضي په توګه وټاکه.

د دې څخه دا څرګندېږي، چې د قضائي استازي ځانته مستقل نه وه، بلکې د عامو والیانو ضمن کې دوی هم وه، چې قضاء به هم د هغوی اړوند کېدله.



# د حنفي مذهب لنډه پېژندنه

ليکوال: شيخ الحديث مولوي محمد عمر (خطابي)[1]



افغانستان يوه مذهبي ټولنه ده او له نېکه مرغه ولس يې د اجتهاد په ډگر کې د ستر شخصيت امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله د مذهب لارويان دي، امام ابوحنيفه رحمه الله د هجرت پر ۱۵۰ کال وفات شوی او د تابعينو په کشره طبقه کې شمېرل کېږي، د حنفي مذهب فقهې مسايل پر درېيو طبقو وېشل کېږي:

(۱) اصول.

(۲) نوادر.

(۳) واقعات.

لومړۍ طبقه يې د مسايل الاصول يا ظاهر الرواية په نامه يادېږي، ظاهر الرواية ټول هغه مسايل دي چې امام محمد رحمه الله په خپلو مشهورو شپږو کتابونو مبسوط، زيادات، جامع کبير، جامع صغير، سير کبير او سير صغير کې په ثقه روايت د امام ابوحنيفه رحمه الله او د هغه د مشهورو او لومړۍ درجې شاگردانو، لکه: امام ابو يوسف، خپله امام محمد، امام زفر، حسن بن زياد اللؤلؤي رحمة الله عليهم او ځينو نورو څخه رانقل کړي دي، شهيد حاکم د امام محمد رحمه الله شپږ واړه کتابونه د الکافي په نامه کتاب کې رانغښتي او امام سرخسي رحمه الله بيا الکافي په خپل کتاب مبسوط سرخسي کې تشرېح کړی دی.

د حنفي فقهې د دويمې طبقې مسايل د مسايل النوادر په نامه يادېږي، د ابوحنيفه رحمه الله د پورتنيو شاگرادانو څخه رانقل شوي هغه مسايل چې د ظاهر الرواية د شپږو کتابونو څخه ماسيوا پرته په نورو کتابونو کې رانقل شوي وي، لکه: د امام محمد کيسانيات، هارونيات، جرجانيات او رقيات، دغه کتابونه د ظاهر الرواية کتابونو په شان د امام محمد رحمه الله څخه په ښکاره او ثابت روايت نه دي رانقل شوي، ځکه نو نوادر يا غير ظاهر الرواية ورته وايي، په نوادرو کې د حسن بن زياد رحمه الله محرر دغه ډول د ابو يوسف رحمه الله څخه مستفاد د الامالي کتابونه هم شمېرل کېږي.

د حنفي فقهې د درېيمې طبقې مسائل واقعات دي: د هماغه وخت څخه نيولې بيا تر دې دمه چې د هرې داسې واقعې په اړه استفتاء شوې ده چې په هغه کې د امام ابوحنيفه رحمه الله او د هغه د بلا واسطه شاگردانو څخه اجتهادي حکم رانقل شوی نه وي؛ بلکې د امام ابوحنيفه رحمه الله د شاگردانو شاگردانو لکه عصام بن يوسف، ابن رستم، محمد بن سماعة ابو حفص بخاري او تر هغو

---

۱- د تعليم الاسلام اداري مؤسس

وروسته محمد بن سلمة، محمد بن مقاتل رازي، نصير بن يحيٰی او قاسم بن سلام رحمة الله عليهم او په همدې ډول تر دې دمه د حنفي مذهب د مشايخو او علماء کرامو له خوا يې د حنفي مذهب د اصولو په رڼا کې حکم استنباط شوی وي، هغو مسايلو ته واقعات يا نوازل وايي، کوم چې د فتاواوو په کتابونو کې رانقل شوي دي، د نن عصر جديد ځواب شوي مسايل هم ټول په نوازلو او واقعاتو کې شمېرل کېږي.

**شرعي احکام:**

فقهاء کرام شرعي احکام يعنې د انسانانو مکلفيت په پنځو حکمونو کې خلاصه کوي:

(۱) فرض، (۲) مندوب، (۳) حرام، (۴) مکروه او (۵) مباح.

د څلورو مذهبونو دا طريقه ده چې د يوې مسئلې حکم لومړی په قرآنکريم کې پلټي، که په قرآن عظيم الشان کې يې امر شوی و، که امر حتمي او لازمي و نو فقهاء هغه کار فرض بولي او که امر حتمي او لازمي نه و نو بيا د اجتهاد او نورو نښو په اساس هغه واجب، سنت يا مستحب يعنې مندوب ګڼي او که په قرآنکريم کې د هغه کار څخه نهي او منع شوې وه نو بيا نهي ته ګوري، که نهي او منع په ډېر شدت وه نو هغه کار حرام بولي او که په نهي او منع کې شدت نه وو نو بيا هغه کار مکروه ګڼي او که په کولو او نه کولو کې انسانانو ته اختيار ورکول شوی و نو هغه کار بيا د مباح په جمله کې شمېري.

که د مسئلې اړوند حکم په قرآنکريم کې ورته څرګند نه شو بيا يې په نبوي حديثو کې په پورتني ډول پلټي که په حديثو کې يې هم حکم و نه موندل شي نو بيا يې د امت د اجماع څخه حکم معلوموي، که د تېرو زمانو يا د اوسني عصر د اجتهاد او استنباط اهليت لرونکو علماء کرامو يې په حکم کې متفق وو نو فقهاء همدغه د اجماع حکم ورته ثابتوي او که د مسئلې د حکم په اړه اجماع هم نه وه، نو په څلورمه درجه کې مسئله پر قرآن، حديثو او اجماع باندې عرضوي څو هلته يې اصل ومومي او بيا پر هغه د همدې مسئلې حکم هم قياس کړي، همدا څلور واړه يعنې قرآن، نبوي حديث، اجماع او قياس په پورتني ترتيب د فقهي مسايلو د اثبات متفق عليه دلايل دي، خو پر دې برسېره د احکامو نور دلايل هم شته، لکه: استحسان، عرف، استصحاب الحال، سد الذرايع، د صحابي قول، مخکني شريعتونه، مصالح مرسله، استقراء، خو دا د مذاهبو تر منځ متفق عليه دلايل نه دي، په ځينو يې ځينې او په ځينو نورو يې نور فقهاء استدلال کوي د اصول الفقه په کتابونو کې په دې اړوند تفصيلي معلومات ورکول شوي دي.

**اجتهاد:**

د اجتهاد لړۍ د صحابه کرامو رضي الله عنهم د زمانې څخه راپيل شوې ده، د رسول اکرم صلی الله عليه وسلم د وفات څخه وروسته صحابه کرام د دين د دعوت او تعليم لپاره بېلا، بېلو ښارونو ته ولاړل او هلته يې فقهي مذاهب هم خپاره شوه، د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما فقه په مدينه منوره کې، د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فقه په مکه مکرمه کې، د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فقه په کوفه کې او د عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما فقه په مصر کې نشر شوه، خو دا چې إلهي عادت داسې راغلی دی چې د حق په مقابل کې باطل هم را څرګندېږي، نو په لومړي ځل د حق په مقابله کې خوارج، شيعه، قدريه او مرجئه را څرګند شول او همدا څلور ډلې د ټولو مبتدعينو ډلو اصل ګڼل کېږي، خو د دې په مقابله کې اهل الحق هم خپلې مورچلې پياوړې کړې، محدثينو د نبوي احاديثو

تدوین او د راویانو نقد او څارنې ته پوره پام واړوه څو نبوي احادیث په صحیح سند د اهل الباطل د درواغو څخه محفوظ او خوندي شي، مجتهدین فقهې قواعدو او اصولو ته متوجه شول یعنې محدثینو او مجتهدینو د اهل الباطل پر مخ هغه دوه لارې بندې کړې، کوم چې د هغو څخه پر اسلام یرغل کوي، ځکه اهل الباطل چې خپلو باطلو عقایدو او اعمالو ته په اسلامي ټولنه کې اشاعت ورکوي دا یا د قرآن او احادیثو مراد غلط بیانوي، په غلطو تاویلاتو باطلو ته مشروعیت ورکوي یا د درواغو حدیثونه جوړوي او په هغه د خپلو باطلو عقایدو او اعمالو مشروعیت ثابتوي.

لومړی لاره مجتهدینو پرې وتړله د قرآن او احادیثو د صحیح فهم اصول او فقهې قواعد او مسایل یې وضع او تدوین کړل، دویمه لاره محدثینو پرې وتړله نبوي احادیث یې تدوین کړل، د اعتماد وړ راوي، د درواغجن، فاسق او هیرجن راوي د پېژندنې لپاره یې د جرح او تعدیل داسې لابراتوار پرانیست چې نوي را پیدا کېدونکي میکروبونه هم کشفوي او د درواغو په وایرس ککړ راویان یې هم په کې معرفي کړي دي.

**څلور مذهبونه:**

په پیل کې د څلورو متبوعه مذهبونو سره هم مهاله څه مخکې او وروسته هم نور فقهې مذهبونه وو، په دې لړ کې د سفیان ثوري مذهب و چې په کوفه کې یې اتباع لرل، په بصره کې د حسن بصري، په شام او اندلس کې د عبدالرحمن اوزاعي او په بغداد کې د محمد بن جریر طبري د مذهب پیروان وو، په دې لړ کې یو هم د څلورم قرن داود بن علي ظاهري دی چې په اندلس کې یې پیروان لرل خو د وخت په تیرېدو دغو مذهبونو خپل لړ او ډېر اتباع له لاسه ورکړل، د ټولو مذهبونو له منځه الله سبحانه و تعالی حنفي، مالکي، شافعي او حنبلي مذهبونو ته د مقبولیت دومره لوړ امتیاز ورکړ چې تر نن ورځې بقاء او پایښت لري او ورځ په ورځ یې پیروان زیاتېږي.

**څلور امامان:**

د حنفي فقهې امام أبو حنیفه نعمان بن ثابت بن زُوطی کوفي دی، نوموړی په ۸۰ هـ کې زیږېدلی، په ۱۵۰ هـ کې وفات شوی دی، قبر یې د بغداد په اعظمیه ښار کې نړیوال شهرت لري.

د مالکي فقهې امام مالك بن أنس اصبحي خو په اصل کې د یمن دی (تولد ۹۳هـ، وفات ۱۷۹ هـ) د مدینې منورې په جنة البقیع کې خاورو ته سپارل شوی دی.

د شافعي مذهب امام محمد بن ادریس دی او د امام مالک شاگرد دی، د فلسطین په غزه کې په ۱۵۰ هـ کې زیږېدلی او په ۲۰۴ هـ کې په مصر کې وفات شوی او هلته په قاهره کې خاورو ته سپارل شوی دی.

د حنبلي مذهب امام أحمد بن محمد بن حنبل شیباني دی چې د امام شافعي شاگرد دی، په بغداد کې په ۱٦٤ هـ کې زیږېدلی او هم هلته په ۲٤۱ هـ کې وفات شوی دی رحمة الله علیهم.

نن ورځ د اهل الظواهر په استثناء ټول اهل السنة و الجماعة په همدغو څلورو مذهبونو کې څوک د یوه مذهب او څوک د بل مذهب تقلید او متابعت کوي.

**د څلورو مذاهبو عالمي انتشار:**

د دغو څلورو مذاهبو د عالمي انتشار او مقبولیت یوه وجه هر اړخیز اجتهاد او بشپړتیا هم کېدلای شي، ځکه په دغو څلورو مذاهبو کې مکمله فقه یعنې د عباداتو، مناکحاتو، معاملاتو او جنایاتو اړوند بې شمېره مسایل مستنبط شوي او هر اړخیز معلومات ورکول شوي دي، لکه څه ډول چې د مریضانو لپاره غوره انتخاب هغه روغتون او درملتون وي کوم چې هلته یې په مسلکي ډول بشپړه معالجه او د اړتیا ټول درمل موندل کېږي، د فقهې مذهب په انتخاب کې هم ښایي همدا اصل څلورو متبوعه مذاهبو ته عالمي مقبولیت ورکړی وي.

**د حنفي مذهب مقبوليت:**

په دغو څلورو مذهبونو کې بیا د حنفي مذهب د اتباعو د ډېرښت وجه هم همدا بشپړتیا کېدلای شي، امام طحاوي رحمه الله د همدغه اصل پر بنسټ حنفي مذهب اختیار کړی دی.

امام طحاوي رحمه الله د حنفي مذهب د سترو امامانو څخه دی، خو دی په پیل کې شافعي مذهبه و پر خپل ماما امام مزني یې شافعي فقه لوستله، وروسته یې خپل ماما پرېښود پر احمد بن ابي عمران یې د حنفي فقهې زده کړه پیل کړه، په دې اړه یو چا پوښتنه ترې وکړه چې تا ولې شافعي مذهب پرېښوود؟ ده ورته وویل: زما ماما به تل د ابو حنیفه رحمه الله د مذهب کتابونه لوستل، یعنې حنفي مذهب په اجتهادي مسایلو کې دونه بډای دی، چې شافعي مذهبه پرې هم خپله کمي پوره کوي، په دې حقیقت خپله امام شافعي رحمه الله هم اعتراف کړی دی وایي: الناس عیال في الفقه على أبي حنیفة، یعنې ټول وګړي په فقه کې ابو حنیفه ته اړ دي او د ده د اجتهاداتو څخه ګټه پورته کوي، همدغه وجه ده چې په دغو څلورو مذاهبو کې بیا حنفي مذهب ډېر انتشار او اتباع لري په عراق، مصر، ترکیه، هند، پاکستان، افغانستان، بخارا او په نورو ډېرو عجمي هېوادونو کې همدا ډول د شمالي افریقا په هیوادونو لکه الجزایر، تونس او تر یو حده په لیبیا کې تر نن ورځې پورې حنفي مذهب زښت زیات پیروان لري.

**حنفي مذهب ته خدمات او دسیسې:**

د دویم قرن څخه نیولې بیا تر نن عصر پورې د نړۍ په بېلا، بېلو هیوادونو کې د حنفي مذهب علماء کرامو په انفرادي او اجتماعي ډول د تعلیمي حلقو او د لویو او وړو مدارسو په پرانیستلو د دعوت او تعلیم په ډګر کې زیات خدمتونه ترسره کړي دي او د همدې لارې یې دیني تعلیم عام کړی دی او د کفارو د فکري یرغل، بدعتونو او خرافاتو مخه یې نیولې ده.

یوه مدرسه چې د انګریزانو د امپراطورۍ پر مهال یې په هند کې د دعوت او تعلیم په ډګر کې ستر رول لوبولی دی د دیوبند دارالعلوم مدرسه ده چې پر ۱۵ محرم ۱۲۸۳ هـ ـ ۱۸۶۷ م کال یې اساس ایښودل شوی دی، د دې مدرسې علمي فیوضات دومره عام شول چې نن ورځ د حنفي مذهب د مدارسو لپاره ام المدارس ګڼل کېږي، خو دا چې باطل کله په یوه او کله په بل شکل کې را څرګندېږي نو د بریلویت د فکر مبتکر احمد رضا خان بریلوي (۱۸۵۵ – ۱۹۲۱ م ) د حنفي مذهب په پوښ کې یو شمېر داسې خطرناکه عقیدوي او عملي بدعتونو ته رواج او مشروعیت ورکړ چې په حنفي مذهب کې هېڅ نه شوای منل کېدلای، نو ځکه د حنفي مذهب رښتینو استازو او معتدلو علماء کرامو یې په رد او مخنیوي کې هڅې ګړندۍ کړې، دوی هم د حنفي مذهب د رښتینو استازو په مقابل کې د بریلویت ډله جوړه کړه، د حنفي مذهب په نامه یې خپلو بدعتونو ته رواج ورکاوه.

دا چې د دیوبند مدرسې او د همدې مدرسې څخه فارغو علماء کرامو د بریلویانو د بدعتونو په مخنیوي کې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړې دي، نن ورځ نه یوازې د پاکستان او هند په سطحه بلکې د نړۍ په سطحه دیوبند د حنفي مذهب د معتدلو علماء کرامو د پېژندنې سمبول او رمز ګرځېدلی دی؛ یعنې هر هغه کس او عالم چې هغه د حنفي مذهب پر صحیح مسیر روان وي او د احمد رضا خان د عقیدوي او عملي بدعتونو مخالف وي هغه ته دیوبندي ویل کېږي که څه هم د دیوبند د مدرسې څخه فارغ شوی نه وي.

**حنفي مذهب او د دیوبند مسلک په افغانستان کې:**

الحمدلله په افغانستان کې هم د حنفي مذهب تقریباً د ټولو علماء کرامو علمي مشر دیوبندي مسلک دی او په ډاډه زړه ویلای شو چې د افغانستان ټول عام وګړي

هم دیوبندي مسلکه دي که څه هم ډېرو به د دیوبند نوم لا هم اورېدلی نه وي، ځکه عوام په عقیدوي او فکري لحاظ د خپلو علماء کرامو څخه الهام اخلي او د هغوی پر لاره ځي.

مخکې مو وویل چې دیوبندي مسلک په حقیقت کې د حنفي مذهب د رښتینو استازو او معتدلو علماء کرامو تګلارې ته وایي؛ دیوبندي مسلکه علماء کرامو د حنفي فقهې د اشاعت او تشریح په ډګر کې ډېر زیات محنتونه ګاللي دي، د حنفي فقهې بې شمېره داسې معتمد کتابونه او فتاواوي یې تألیف کړي چې هغه ته هر حنفي مذهبه مفتي په دارالافتاء کې د فتوا لپاره اړتیا لري، څو د دیوبندي علماء کرامو د فتاواو په حواله د خپلې فتوا اثبات یا تائید وکړي، په افغانستان کې هره دار الافتاء او د هر عالم شخصي کتابتون د دیوبندي علماء کرامو په فتاواو او تألیفاتو ډک او د هغوی پر علمي خدماتو رښتیني ګواهان دي. دیوبندي علماء کرامو نه یوازې په افغانستان، هند او منطقه کې؛ بلکې د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د فتوا یعنې فقهې خدمتونو څخه علاوه د جهاد، تعلیم، دعوت او دې ته ورته نورو ډګرونو کې را ځلېدلي او بې ساري خدمتونه یې ترسره کړي دي او نور به هم ان شاء الله د دې معتدلو علماء کرامو د خدمتونو کاروانونه د مسلمان ولس په ملاتړ مخ په وړاندې ځي.

**د عوامو خلکو لپاره ضروري اګاهي (پوهاوی):**

کله د مذهب څخه ناخبرتیا یا د فتواوو اختلاف ځینو عوامو ته پر خپلو حنفي مذهبو علماء کرامو د بې باورۍ سبب ګرځي، خو که عوام دوه ټکي په پام کې ونیسي ان شاء الله د دغو بې ځایه شبهو مخه به ونیول شي:

لومړی: حنفي مذهب هغه دی چې د حنفي مذهب په بې شمېرو معتمدو کتابونو کې یې په اجمالي او تفصیلي ډول په ټولو اختلافي مسایلو کې راجح او مرجوح قولونه بیان شوي دي، ځکه نو حنفي مذهبه علماء کرام د حنفي فقهې د کتابونو په رڼا کې پېژندلای شو، کوم علماء کرام چې د حنفي مذهب د کتابونو موافق فتوا ورکوي هغوی حنفي مذهبه دي که څه هم فتوا یې د یوې سیمي خلکو ته نوی فکر ښکاره شي، ځینې کسان اشتباه کوي یوازې هغه کس حنفي مذهبه بولي چې فتوا یې د پخوانیو او اوسنیو رسمونو او رواجونو سره موافقه وي، یا هم د رسم او رواج خلاف فتوا نه ورکوي، خو که یو کس د حنفي معتمدو کتابونو په استناد د راجح قول له مخې داسې فتوا ورکړي چې هغه د سیمه ییز دود او رواج خلاف وي پر هغه بې باوري کوي، په داسې حال کې چې د پخوا څخه نیولې بیا تر دې دمه هېڅ داسې کلی او وطن نشته چې د علماء کرامو او عوامو ټول کړه وړه، رسم او رواج یې دې د حنفي مذهب مطابق وي؛ بلکې ډېر ځله داسې پیښېږي چې په سیمه کې دې ځینې داسې کارونو عام رواج موندلی وي، چې په حنفي مذهب کې بدعت یا هم ناسم رواج ګڼل کېږي.

کله داسې هم پیښېږي چې په سیمه کې دې د حنفي مذهب په یوه معتمد قول هېڅ عمل نه کېږي، کوم کس چې د حنفي مذهب د معتمد قول له مخې عمل کوي هغه ته د شک په سترګه کتل کېږي، د نمونې په ډول په التحیاتُ کې د شهادت د ګوتې پورته کول یادولای شو، ابن عابدین رحمه الله په دې اړه د مذهب د دوو قولونو په اظهار نظر کې په رد المحتار کې مشهور قول یعنې د ګوتې نه پورته کول د روایت او درایت خلاف ګڼلی دي او د ګوتې د پورته کولو د درېیو صورتونو څخه دوه صورتونه یې په احادیثو او اثارو ثابت بللي دي او هم هغه یې د امام ابوحنیفه، امام ابو یوسف او امام محمد رحمة الله علیهم قول بللی دی، د لمانځه په التحیاتُ کې د ګوتې د پورته کولو په اړه د حنفي مذهب حکم همدا دی خو ښایي

په ځینو کلیو کې که څوک د ګوتې اشاره کوي د هغه پر حنفیت دې ځینې کسان شکمن شي، نو کله د مذهب څخه ناخبرتیا پر صحیح حنفي مذهبه باندې د غیر حنفي مذهبه ګمان کولو سبب ګرځي.

دویم: د حنفي مذهب ټول مسایل متفق علیه نه دي، که یو کس د یوه عالم څخه داسې فتوا واوري چې د بل څخه یې د هغه خلاف اورېدلې وي، دلته هم باید د دغه یا د هغه په حنفیت کې شکمن نه شي، ځکه په اجتهادي مسایلو کې لکه څه ډول چې د حنفي، شافعي، مالکي او حنبلي مذهبونو ترمنځ اختلافات شته دغه ډول د یوه مذهب د امامانو او مشایخو تر منځ هم اختلافات شته آن تر دې چې کله د یوه مجتهد څخه په یوه مسئله کې څو قولونه را نقل شوي دي، لکه څنګه چې د یوه او بل مجتهد په فهم کې تفاوت شته د یوې مسئلې حکم یو مجتهد یو ډول او بل یې بیا بل ډول فهموي، دغه ډول یو مجتهد کله د یو مسئلې حکم یو ډول او کله بیا بل ډول فهموي، د مخکنې قول څخه رجوع وکړي، خو وروستیو کسانو ته یې د رجوع نېټه معلومه نه وي لهذا د همدغو اختلافاتو له امله باید حنفي وحدت ته زیان و نه رسول شي او نه د دغو اختلافاتو له امله د بې باورۍ فضاء را منځته شي.

**د فتوا توحید:**

د علماء کرامو ستر مسؤولیت دا دی چې په تفاهم، علمي مناقشو او متقابل احترام په فتوا کې توحید راولي یعنې د افتاء د اصولو په رڼا کې لومړی د واقع صحیح تصور وکړي او بیا د موجوده شرایطو د اوسني عصر او سیمه ییز عرف مناسب د مختلفو اقوالو څخه یو قول په دقیق نظر د افتاء لپاره انتخاب کړي، په ځانګړې ډول په حقوقي او ټولنیزو مسایلو کې ځکه په دغه ډول مواردو کې د فتوا تشتت او اختلاف نور هم د خلکو خپل منځي کشمکش او دعوې زیاتوي، خو تر هغه مهاله چې د فتوا د توحید او یووالي امکانات او شرایط اماده شوي نه وي، نو مفتي صاحبانو ته په کار ده چې د ځانونو څخه قاضیان جوړ نه کړي چې د قضائي حکم په شان خپله فتوا پر نورو الزاماً تپي؛ بلکې د مفتي دنده د حکم اظهار دی، که د بل مفتي فتوا د ده د فتوا خلاف وه د هغه په وړاندې د خصومت او جګړې مورچله پرانیستل مناسب کار نه ښکاري، ځکه دا په خلکو پورې اړه لري چې د کوم مفتي علمیت، تقوا او د فتوا دلایل ورته د قناعت وړ دي او بل دا چې علمي اختلافات باید د حنفي مذهب د وحدت له منځه وړلو وسیله و نه ګرځول شي، بلکې همدا اختلافات د لا زیاتو علمي څېړنو، مطالعو او حقایقو ته د ځان رسولو یعنې د رحمت وسیله وګرځول شي.

نو علماء کرامو ته په کار ده چې په علمي سپر د حنفي مذهب څخه دفاع وکړي او د وحدت په مورچله کې د انصاف په غشو په احسنه طریقه د هغو کړیو سره مجادله او مقابله وکړي کوم چې د حنفي مذهب مقابلې ته یې لېځې رانغښتې او په بربنډ ډول یې د بدنامولو هڅې کوي او یا په حنفي مذهب کې د تخریب لپاره را ننوتي په خرافاتو او ناسمو عقایدو یې بدناموي، ځکه افغاني ټولنه که څه هم حنفي مذهبه ده خو بیا هم په دې ټولنه کې د یو شمېر نورو ډلو تر څنګ دوې داسې وړوکې ډلې هم وجود لري چې یوه ډله یې د مذهب تقلید د دین څخه بېلاري ګڼي او په ښکاره ډول د حنفي مذهب د بدنامولو هڅې کوي، دا ډله د عوامو په اصطلاح وهابیان نومیږي او بله ډله بیا که څه هم حنفي مذهبه دي خو په خرافاتو او ناسمو عقایدو حنفي مذهب بدناموي؛ دا ډله بیا بریلویان نومیږي چې په سِند، پنجاب او یو شمېر نورو وطنونو کې یې شنې او سرې لنګوټې مذهبي لباس او د پېژندنې ښکاره نښې دي.

# قضاء او معاصر قرائن

ترتیب کوونکی: مولوي ذبیح الله (سیلاب)[1]

**دویمه او وروستۍ برخه**

**قیافه:**

قیافه په لغت کې د یوه شي د پېژندلو په موخه د هغه شي د آثارو تعقیبولو ته وايي. التعريفات الفقهي (ص/١٦٩)

**د قیافې اصطلاحي تعریف:** په نسب کې د بل انسان په شباهت باندې استدلال کول له قیافې څخه عبارت دی، څوک چې په قیافه پېژندنه کې مهارت ولري هغه ته قیاف وايي، چې جرجاني په خپل کتاب التعريفات کې داسې تعریف کړی دی: قیاف هغه چاته ویل کېږي چې د ماشوم د بدن د غړو په لیدلو سره د هغه نسب پېژني. التعريفات للجرجاني (ص/١٧١).

**قیافه په دوه ډوله ده:**

**اول: قیافة الأثر:** چې عیافه هم ورته ویل کېږي، عبارت له هغه علم څخه دی چې په وسیله یې د انسان د قدم آثار، د اوښ پلونه، د آس گامونه او داسې نور په لارو او کوڅو کې تعقیبېږي.

**دوهم قیافة البشر:** دا ډول قیافه عبارت له هغه علم څخه ده چې د مخ، شکل او بدن د نورو غړو مشابهت د دوو کسانو ترمنځ بررسي کوي او د هغوی تر منځ د نسب د تړاو په اړه پوهېږي. کشف الظنون عن أسامي الكتب لحاجي خليفة (١٣٦٦/٢).

دا چې د قیافې په ورته والي سره قضاء کول جواز لري او که نه؟ او نسب وربانديې ثابتېږي کنه؟ په اړه یې علماء اختلاف لري؛ مالکیه، شافعیه او حنابله په دې اند دي چې په قیافې سره نسب ثابتېدلای شي او په اړه یې هغه حدیث دلیل نیسي چې امام بخاري (رحمه الله تعالی) په خپل صحیح کې د حضرت عایشې (رضی الله عنها) څخه د تور اسامه او د هغه د سپین پلار زید (رضی الله عنهما) په اړه چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) پرې زیاته خوشحالي څرگنده کړې ده، روایت کړی دی او همدا د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) خوشحالي د جواز لپاره دلیل گڼي. خو احناف بیا په قیافه باندې عمل کول او نسب ثابتول جایز نه بولي د حدس او گومان په درجه کې یې گڼي او په اسلامي شریعت کې دا جواز نه لري چې په گومان باندې د قضاء ترسره شي، ځکه چې ماشوم ډېر کله خپل پلار ته نه بلکې ډېر لرې نیکه ته ورته وي او په دې اړه رنگ ته اعتبار نه دی ورکړل شوی. المبسوط للسرخسي (٧٠/١٧).

په حنفي مذهب کې د نسب پېژندنې لپاره د فراش قرینه معتبره گڼل شوې ده چې په دې حدیث شریف باندې یې استدلال کړی: ٧٢٦٢ - حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَعِيدٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَوْ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَحَدِهِمَا أَوْ كِلَيْهِمَا : أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " الْوَلَدُ لِلْفِرَاشِ، وَلِلْعَاهِرِ الْحَجَرُ " مسند الإمام أحمد بن حنبل (٢٠٣/١٢).

امام ابن قیم الجوزية رحمه الله تعالی په خپل کتاب الطروق الحكمية في السياسة الشرعية کې لیکلي دي چې اسامة بن زید نسب په فراش سره ثابت و او د قایف قول نبي (صلی الله علیه وسلم) په دې وجه خوشحال کړ چې د شریعت سره موافق راغی. الطرق الحكمية في السياسة الشرعية (٣٠٥/١).

**طبي معاينات:**

په نن نړۍ کې شرعي طب د اثبات په برخه کې خصوصاً د جنایاتو او جرمونو د اثبات په برخه کې خورا مهم رول

---

١- د میدان وردگ ولایت ښاري محکمې د مدني دیوان محرر

لري او يو طبيب بايد له دې چارې سره بشپړه بلدتيا ولري، بيا په ځانګړې توګه زنانه او ولادي طبيبې چې د جنين د سقط او د اغتصاب حالات ثابتوي، په دې کې شک نشته چې په دې وروستيو پېړيو کې علم او تمدن ډېر زيات پرمختګ کړى دى او دا ممکنه ده چې د دغه علم په واسطه په جزائي او حقوقي برخه کې د قضاء اړوند ځينې موضوعات د اهل خبره په توګه وڅېړل شي دا چې د اهل خبره رايه په اسلامي فقه او د قضاء په نظام کې د اعتبار وړ ګڼل شوې ده چې په دې اړه په حنفي فقه کې هم زيات بحث شوى دى چې د همدې اهل خبره له جملې څخه طبي معاينات چې د پوهو او متخصص ډاکترانو له لوري ترسره کېږي ګڼل شوى دى، چې د طبي معايناتو په اړه لنډ بحث کوو:

**۱. د نکاح اړوند عيبونه او طبي معاينات:**

کله چې د خاوند او ښځې ترمنځ د يوه عيب په وجه اختلاف پيدا شي او هغه عيب په طبي معاينې سره ثابت شي، آيا په نومړې طبي معاينه باندې حکم کېداى شي؟ هغه عيبونه چې په خاوند او ښځه کې پيدا کېږي په دوه ډوله دي، يو هغه عيب دى چې په سترګو ليدل کېږي او يو هغه عيب دى چې په سترګو سره نه ليدل کېږي مګر په خپله د صاحب له لوري او يا په طريقه د شاهدانو چې د هغې له جملې څخه ډاکتري معاينات دي.

دا عيبونه يا تنها تر نارينه پورې مختص وي لکه: عينوالى او يا تنها تر ښځو پورې اړوند وي لکه: عفل، او يا د دواړو ترمنځ مشترک وي لکه: ليونتوب او يا داسې نور مرضونه.

**عنين:** هغه چاته ويل کېږي چې د مرض له وجې د ښځې په فرج کې په جماع کولو باندې قادر نه وي، سره له دې چې مخصوصه آله يې هم پورته کېږي. حاشية ابن عابدين(۹۱/۳) فتح القدير (۲٦۲/۳).

**عفل:** هغه څه ته ويل کېږي چې شتون د وطي د لذت او خوند مانع ګرځي. الخرشي على مختصر خليل (۲۳۷/۳).

دا چې فقهاء کرام (رحمهم الله تعالى) په قرائنو باندې عمل کول روا او جايز ګڼي په اثبات د هغو عيبونو کې چې د خاوند او ښځې ترمنځ وي، نو که چېرته يوې ښځې دعوه وکړه چې خاوند مې عنين دى او خاوند يې انکار وکړي او له قسم څخه منعه وکړي نو د قاضي لپاره دا شته چې له قسم څخه د نکول له وجې په خاوند باندې حکم وکړي. حاشية العناية على الهداية في شرح فتح القدير (٦٥/۳).

يو له هغو قرائنو څخه چې د يوه شخص عينوالى ورباندې ثابتدلاى شي هغه اوسني پرمختللي طبي معاينات دي، دا چې په مخکنيو وختونو کې طبي معاينات دومره پر مختللي نه وو خو فقهاوو بيا هم د دې ټېست د ترسره کولو لپاره مختلفې طريقي ذکر کړې دي چې ابن الهمام (رحمه الله) په فتح القدير کې ليکي: په يوه تشت کې دې يخې اوبه واچوي او عنين دې په کې کښېنوي که چېرته يې ذکر ټيټ او يا هم غونج شوو نو دا معلومه شوه چې عنين نه دى او که چېرته داسې نه شو نو دا معلوميږي چې دا عنين دى فتح القدير (۲۹۷/۴).

خو که چېرته د يوه شخص عينوالى ثابت شي نو د څلور مذاهبو فقهاوو په دې باندې اتفاق کړى چې د ښځې لپاره د جداوالي حق ثابتيږي، بدائع الصنائع في الترتيب الشرائع په دې اړه د صحابه (رضى الله عنهم) اجماع رانقل کړې ده چې د عنين شخص ښځې ته د جداوالي اختيار ثابتېږي. بدائع الصنائع في الترتيب الشرائع (۳۲۲/۲).

که چېرته دا ثابته شي چې خاوند عنين دى بيا يو کال وخت هم ورکول کېږي ځکه چې د عنين لپاره يو کال وخت ټاکل د دې لپاره دي چې معلومه شي ياد شخص عنين او که روغ دى. فتح القدير (۲۹۷/۴).

**د تفريق لپاره فقهاوو بيا څو شرطونه وضعه کړي دي:**

**لومړى:** په دې نکاح کې به خاوند ښځه يو ځل هم نه وي وطي کړې که چېرته خاوند ښځه په همدې نکاح يو

ځل وطي کړې وي نو د تفريق حق يې ساقط دی. بدائع الصنائع في الترتيب الشرائع (۳۲۵/۲).

**دويم:** خاوند به بالغ وي. حاشية ابن عابدين (۴۹۶/۳).

**دریم:** ښځه به بالغه وي. البحر الرائق لابن نجیم (۱۳۴/۴).

**څلورم:** کله چې خاوند ته نېټه اېښودل کېږي نو په دې وخت کې به له بل مرض څخه جوړ وي. البحر الرائق لابن نجیم (۱۳۴/۴).

**پنځم:** ښځه به په وخت د عقد کې په عنینوالي د خاوند باندې خبره نه وي که چېرته په وخت د عقد کې خبره وي نو بیا اختیار نه لري. بدائع الصنائع (۳۲۵/۲) البحر الرائق لابن نجیم (۱۳۴/۴).

**شپږم:** ښځه به د خاوند په عنینوالي باندې راضي شوې نه وي که رضایت مخکې له عقد څخه وي او که وروسته له عقد څخه. البحر الرائق لابن نجیم (۱۳۴/۴).

**اووم:** په ښځه کې به داسې عیب نه وي موجود چې هغه د جماع مانع واقع کېږي. البحر الرائق لابن نجیم (۱۳۴/۴).المبسوط للسرخسي (۹۷/۵).

خو کله چې عقل والی د یوې ښځې په دې قرینه سره چې طبي معاینات دې ثابت شي د احنافو په نزد باندې په دې سره د جداوالي اختیار نه ثابتېږي ځکه چې دا د نکاح د مشروع والي او مقصود مخل نه واقع کېږي. المبسوط للسرخسي (۹۵/۵) العناية على الهداية مع شرح فتح القدير (۲۶۷/۳) بدائع الصنائع (۳۲۷/۲).

د لېونتوب په ثبوت سره هم د احنافو (رحمهم الله تعالی) په نزد باندې د جداوالي اختیار نه ثابتېږي برابره خبره ده که دا لېونتوب په ښځه کې وي او که په خاوند کې وي المبسوط للسرخسي (۹۵/۵) الهداية (۲۷/۲) بدائع الصنائع (۳۲۷/۲).

خو امام محمد (رحمه الله تعالی) وايي که چېرته لېونتوب په خاوند کې وي نو ښځې لپاره د جداوالي اختیار شته. المبسوط للسرخسي (۹۵/۵) الهداية (۲۷/۲) بدائع الصنائع (۳۲۷/۲).

**۲. د نسب په اثبات کې د ارثي نښو ډاکتري معاینات:**

د هغو تجربو په نتیجه کې چې اتریشي طبیب په ۱۹۰۰ م کال کې ترسره کړې د انسان وینه یې په څلورو ګرپونو چې عبارت دي له (A. B. AB. O) چې په دې ګروپونو کې بیا دا خالص ګروپونه د بل ګروپ سره مخلوط شي هغې ته مخلوط ګروپ هم ویل کېږي او د AO. BO. OO په نامه سره ښودل کېږي.

**څنګه کولای شو چې د وینې د ګروپ په اساس د یو ماشوم نسب ثابت یا نفي کړو؟**

د هر یو (مور، پلار او ماشوم ) د وینې ګروپ دې په جلا جلا توګه باندې معاینه شي او د هر یوه د وینې ګروپ د جینونو ترکیب دې معلوم کړل شي، وروسته دې د ماشوم جیني ترکیب د سړي او ښځې له جیني ترکیب سره مقایسه کړل شي، که د سړي یو له جینونو د اشتراک احتمال د ماشوم د جین په ترکیب کې ولیدل شي، په دې صورت کې احتمال لري چې دا ماشوم به د هغه سړي زوی وي د احتمال خبره ځکه کوو چې کېدای شي عین ګروپ د بل سړي هم وي، مثلاً هغه سړی چې د وینې ګروپ یې O وي نو د دې وینې ګروپ جیني ترکیب O O وي او د هغه مور چې د وینې ګروپ یې A وي نو د وینې ګروپ جیني ترکیب یې AA او AO وي، همدې ته ورته نور.

که چېرې د ښځې د وینې ګروپ AO او د سړي د وینې ګروپ BOوي او د ماشوم د وینې ګروپ O یا O O وي په دې معنا نه ده چې دا ماشوم د دې مور او پلار دی؛ خو احتمال شته، اما که چېرته د جینو اشتراک په ماشوم کې ونه لیدل شي نو په دې صورت کې په کلي توګه د دې مور، پلار او ماشوم تر مابین د نسبي اړیکې احتمال نفي کوي. هغه حجرې چې وراثي پیام د یو نسل څخه بل نسل ته انتقالوي هغه د رایبوزي هستوي تیزاب په نامه یادېږي چې مختصر یې (DNA) نومیږي.

د (DNA) معايناتو لپاره چې د جينونو د نښانې تعين او تشخيص په کې کېږي د اولاد د ثبوت په حالت کې د وينې نمونه را اخلي او د اغتصاب په حالت کې د انسان د مني نمونه را اخلي، په هغه صورت کې چې په انسان باندې تجاوز صورت نيولی وي او د مقاومت وروسته وفات شوی وي، د هغه د نوکانو لاندې پوستکی يا د سر ويښتان د ريښې سره اخلي، وينه يا د مني اوبه چې د جرم په محل کې وچې شوې وي را اخلي، يا د خولې لاړې را اخلي او په لابراتوار کې يې تجزيه کوي او د جينونو نښانې ترې معلوموي، دا چې د اسلامي شريعت په اصولو او قواعدو کې د نسب د ثبوت لپاره يوه ادنا سبب ته هم اعتبار ورکړل شوی دی لکه د يوې ښځې شهادت، تنها دعوی خو سره له امکانه، دا چې په اسلامي شريعت کې د نسب د ثبوت لپاره تر ټولو قوي قرينه فراش ګڼل شوی ده خو په علاماتو باندې استناد کول هم د دې قرينې سره په ټکر کې نه واقع کېږي که ثابته شي چې ماشوم د زوجينو په فراش کې دنيا ته راغلی وي، نو په ارثي علاماتو باندې هغه وخت استناد کېدلای شي چې له دې څخه بل قوي دليل موجود نه وي، د نسب نفي بيا د شريعت په اصولو کې له شبهې سره نه کېږي، خو د ملاعنې په صورت کې دا نفي بيا د اعتبار وړ نه ګڼل کېږي.

**۳. په نشه او د مخدره موادو په استعمال کې ډاکتري معاينات:**

د شرابو حد په اقرار او شهادت سره ثابتېږي؛ خو کله دا متعذر کېږي په طبي معايناتو کې د نشې او مخدره موادو د شتون لپاره د متهم کس په وينه او بولو کې د نشې ماده کتل کېږي، د دې مادې شتون د جرم په موجوديت باندې يوه قرينه ده، خو د احنافو په نزد باندې قرائن، لکه قی او بوی او نشه‌والی د حد د اقامې لپاره دليل نشي کېدلای. تبين الحقائق (۱۹۷/۳) البحر الرائق (۲۹/۵) فتح القدير (۱۸۴/۴).

دا چې ډاکتري معاينات هم يوه قرينه ګڼل کېږي د حد د اقامې لپاره دليل نشي ګڼل کېدای، خو د مالکيه او حنابله په يوه روايت کې بيا قرائن د حد اقامې لپاره کفايت کوي. المغني (۳۰۹/۸) المنتقي (۱۴۳/۳).

**۴. په نفس او مادون نفس کې د قصاص د اثبات لپاره طبي معاينات:**

په نفس او مادون نفس باندې تجاوز کول کله¬، کله په شهادت او اقرار سره متعذر کېږي، يعنې اقرار او شهادت په اړه نه وي موجود، خو د طبي معايناتو د تشريح په نتيجه کې د مدعي دعوی ته ترجيح ورکول کېدای شي، نو آيا دغه تشريح د اثبات او نفي د دعوی لپاره قرينه ګڼل کېدای شي او کنه؟

اوسنی شرعي طب په دې اړه ډېر پرمختللی دی او ميت په جثه باندې د مختلفو ابعادو او لارو څخه معاينات اجرا کوي او دا معلوموي چې آيا نوموړی شخص په يوه جنائي پېښه کې وژل شوی، ځان وژنه ترسره شوې او که په طبعي مرګ باندې وژل شوی دی، په ټوله کې په دې معايناتو کې د وژل شوي شخص د مړينې او يا وژنې سبب او د وژلو د آلې څرنګوالی روښانه کېږي؛ دا چې په کوم ډول سره دا معاينات کېږي ددې بحث موضوع نه ده، په خلاصه ډول سره ويلای شو چې د دې معايناتو ترسره کول هم کافي شرايط لري او هغه څوک چې دا معاينات ترسره کوي هم بايد ځانګړي شرايط په کې موجود وي.

دا چې په محل د جرم کې له متهم څخه کومې نښې او نښانې پاتې کېږي او په دې سره مجرم تشخيص کېږي له يو ځای څخه تر بل ځايه او له يوه جرم څخه تر بل جرم پورې فرق لري او دا جرمي نښې په دوه ډوله (ښکاره نښې، پټې نښې) دي:

**۱ـ ښکاره نښې بيا په څو ډوله تقسيم شوې دي:**

**لومړی: وېښتان**

که د جرم په محل کې وېښتان پاتې وي په هغه وېښتانو د مختلفو ابعادو او لارو څخه معاينات ترسره کېږي او له

دې معايناتـو څخه په استـفادې د جـرم د حالت او کيفيت په اړه معلومات ترلاسـه کوي او د وېښـتانو معاينات د جرم پـه پېژندګلـوي کې عجيـب خاصيت لري، په جامدو شـيانو کې نښلي او څښـونکي شـيان جذبـوي، د جرم پـه محل کې چـې کـوم وېښـتان موجـود وي کـه چېرتـه د طبـي معايناتو پـه واسطه پـه هغـه کـې داسـې صفـات پيـداشي چـې هغه لـه متهـم سره يـو شان وي لکـه د وينـې د ګـروپ يووالـی او همدارنګـه د بيروتينـو يووالـی، دا د جـرم پـه اثبـات کـې قـوي قرينـه نـه ګڼـل کېـږي صرف پـه متهـم بانـدې شک اضافـه کـولای شي چـې دا به مجرم وي، خو کـه چېرته هغه نښـې او صفات چې په وېښـتانو کې دي د متهم له نښـو او صفاتـو سره يـو شـان نـه وي دا بيا لـه متهم څخـه د جرم په نفـي کـې قاطعـه قرينه ګڼـل کېږي.

**دويم: د وسلې مرمۍ:**

پـه اوس وخـت کـې ناريـه وسـله د مـرګ او قتـل لپـاره تـر ټولـو ډېـره مهمه وسيله ګڼل کېـږي او په جرايمـو کې ناريه وسله ډېـر مهـم رول لري، د اسلحو څخـه د پاتې نښـانو په واسطه کـولای شـو دا معلومـه کـړو چـې پـه دې جـرم کـې کوم ډول اسلحه استعمال شـوې ده چې جنائي متخصصان پـه دې اړه بېلا، بېـل معاينـات تـرسره کـوي ، دا هـم کولای شي چـې د زخـم لـه مخـې معلومـه شي په کوم ډول اسـلحه استعمال شـوې ده، همـدا شان د مرميـو لـه معايناتو څخه هـم پـه آسـانه توګـه دا معلوميـږي، خـو د جرم پـه محل کې دا ډول قرائـن بيـا ضعيـف قرائـن بلـل کېـږي او پـه ضعيفـو قرائنـو بانـدې قضاء کـول جائـز نـه ده.

**درېيم: د پښو د قدمونو نښې:**

د جـرم پـه محل کې د مجرم په شـتون باندې د هغه پښـو د قدمونـو څخـه پاتې نښـانې هـم قوي قرينه ګڼـل کېږي په دې معنـا چـې کـه د جـرم پـه محـل کـې د قدمونو د نښـانو هغـه خطوط چـې حلمية (هغـه خطونـه دي چـې د پښـو په تلـو کـې موجـود دي) خطـوط ورتـه ويـل کېـږي د متهـم د پښـو لـه خطونـو سره يـو شـانته وي نـو د متهـم پـه شـتون بانـدې قـوي قرينـه ګڼـل کېـږي او کـه چېـرې د متهـم د پښـو لـه خطونـو سره برابـر نـه شي نـو د متهـم پـه نشـتون باندې ښـکاره قرينـه ګڼل کېـږي، خو که چېرتـه دا خطونه د متهم د پښـو لـه خطـو سره برابر هم شي پـه دې ډول قرينه باندې اعتـماد نـشي کېـدلای او کـه چېرتـه ورسره موافق نـه وو نو بيـا پـه نفـي د دې جرم له متهـم څخه ښـکاره او قوي قرينه ګڼـل کېـږي.

**۲ـ هغه قرائن چې پټ او خفي دي:**

دا قرائن بيا په څو ډوله دي:

**۱ـ د ګوتې نښې او علامات:**

د ګـوتـو نښـې يـا علامـې عبـارت لـه هغـو خطونـو او وتـلي نقاطـو ورو کانالونـو څخـه دي چې په مجموعـي توګه خاص شکل او صـورت تشکيلوي، چـې د لاس پـه ګوتـو او ورغوي او د قدمونـو پـه ښـکتنۍ برخـه کـې شـتون لـري او د لمس پـر مهـال د شـوی او همـوارې سطحې پـه مخ بانـدې خپل اثـر پريـږدي. المعجم الوسيط (۵۹/۱).

د ګوتـو پـه نښـانو او خطونـو بانـدې د يـوه شـخص تثبيت تقريبـاً زر کلنـه مخينـه لـري. دور البصمة في الکشف عن الجريمـة للصفطـاوي(ص/۱).

د لاس او پښـو د ګوتـو علامـې او آثـار معمـولاً په هغو شـيانو کـې مونـدل کېـږي چـې مجـرم کس لمـس کـړي وي، يا يې پښـه پـرې ايښـې وي، لکـه: د کړکـۍ ښيښـه او يـا دست ګيـر، د دروازې دسـتګير، الـماری، صندوق او يا داسـې نور شيان چـې د انتقـال پـه وخـت کـې لـه مجـرم څخـه پاتـې شـوې وي، اوس کـه چېرتـه د يـوه مجـرم څخـه د جـرم پـه محـل کـې د هغـه د ګوتـې او يـا پښـې د خطونـو علايـم او نښـانې پاتـه وي نـو آيـا د جـرم په اثبـات او يا نفي کې کوم اثـر لـري او کـه نـه، په شريعـت کې اعتبـار ورکړل شـوی او کنه ؟

دا چـې د ګوتـې نښـانې او يـا خطونـه د هـر شـخص جـدا او پـه بېـل ډول سره دې او د تغيـر وړ هـم دي، فقط د جسـم د لويـوالي لـه وجـې د خطونـو انـدازه او مسافه فرق کـوي

خو علامې يې بيا هېڅ تغير نه کوي. علم البصمات التطبيقي (ص/۲۱۷).
دا خطونه په ټول عالم کې د دوو اشخاصو لپاره يو شانته نه وي؛ بلکې يو له بل سره ښکاره فرق لري. الندوة العربية لعلم البصمات (ص/۳٦۷).
ځکه خو د جرم پلټونکي د جرم په محل کې تر عکس او يا بلې کومې علامې څخه زيات نه زيات کوښښ د ګوتو د سرونو په نښو پسې کوي او له هر متهم نه تر هر څه مخکې د ګوتو د سرونو نښه اخلي او په همدې باور دي چې په دنيا کې د دوو انسانانو د ګوتو د سرونو ګاري يوه بل ته ورته نه دي او دا د قرآنکريم يو علمي اعجاز هم د سورة القيامة په څلورم آيت کې په ګوته کوي: بَلَىٰ قَادِرِينَ عَلَىٰ أَن نُّسَوِّيَ بَنَانَهُ سورة القيامة آيت ۴. فقهاوو رحمهم الله تعالى په خپلو کتابونو کې په دې اړه کوم بحث نه دی کړی چې د ګوتو ګاري (خطونه) يوه وسيله د اثبات له وسايلو څخه ده، ښايي له دې امله وي چې هغه وخت دا علم دومره نه و پر مختللی؛ ځکه چې دا علم په ۱۲۷۸هـ ۱۸۵۸م کال کې کشف شو.
خو نن ورځ دغه علم ډېر پر مختللی دی، په اوسمهال د متهم د مجرموالي او يا نه مجرموالي په اړه قرينه قاطعه ګڼل کېږي، که چيرته د هغو ګوتو نښان د متهم له ګوتو سره موافق شو نو دا د متهم په مجرموالي باندې قاطع قرينه ګڼل کېږي او که چېرته ورسره موافق نه و نو دا د متهم په نه مجرموالي باندې قاطع قرينه ګڼل کېږي. القضاء بالقرائن المعاصرة (ص/٦۵۴).

**۲ـ د وينې داغونه:**

په دې اړه د نسب، مسکراتو او مخدره موادو په بحث کې يادونه شوې ده خو د وينې داغونه هم د جرم په اثبات او نفي کې قرينه ګڼل کېږي او د متهم په ضد باندې يوه قوي قرينه ګڼل کېږي کله چې د وينې داغونه د مجنی عليه په وجود باندې نښتي وي د مجني عليه او متهم وينه د ډاکټري معايناتو په واسطه يو له بل څخه جدا کېږي؛ که چېرته دا وينه د متهم له وينې سره سمون وخوري نو د جرم په اثبات باندې قرينه ضعيفه ده؛ ځکه دا امکان شته چې دا وينه د بل کس وي او يا متهم د مجرم د پېژندنې لپاره د جرم محل ته راغلی وي او که چېرته د وينې داغونه د متهم له وينې سره سمون ونه خوري نو د متهم د برائت لپاره بيا قوي قرينه ګڼل کېږي.

**۳ـ د مني اوبه:**

که زنا په اقرار او شهادت سره ثابته نشي او په يوه کس يې تور پورې وي د اثبات او نفي لپاره يې ډاکتري معاينات يو له معاصرو قرائنو څخه ګڼل کېږي چې د مني اوبه تجزيه کوي او په جسم باندې نښتي مني او د متهم مني سره مقايسه کوي، که چېرته يو له بل سره سمون وخوري نو د متهم په اړه يوه ضعيفه قرينه بلل کېږي؛ ځکه چې د ډېرو انسانانو د مني ګروپ سره يو شانته وي خو که چېرته ور سره سمون ونه لري نو اتهام د نفي لپاره قوي قرينه ګڼل کېږي. أصول الطب الشرعي وعلم السموم (ص/۷۸)

**۴ـ عکس، ويډيو او غږ:**

کله چې يو څوک د خپلې ادعاء لپاره په محکمه کې د واقعي تصوير/عکس او يا متحرکه عکسونه (ويډيو) او غږ وړاندې کوي او دا د جرم د ثبوت لپاره يوه وسيله ګڼي، آيا د جرم د ثبوت لپاره دا يوه قرينه ګڼل کېدای شي او کنه؟ خلاصه دا ده چې نه يوه ډېره ضعيفه قرينه ګڼل کېدای شي قاضي کولای شي چې د نورو قرينو تر څنګ يې يوه ضعيفه قرينه وګڼي ځکه چې اوسني کمپيوټري سيستمونه کولای شي د يوه شخص په ځای د بل کس عکس، ويډيو او صوت جوړ کړي او يا هم د دوو کسانو سره ورته وي. القضاء بالقرائن المعاصرة (ص/۷۴۴- ۷٦۳).





# د اسلامي نظام قضائیه قوه د بشپړ عدالت شهکاره ده

دویمه برخه

لیکنه : مفتي محمدعرفان الهام[1]

## د قاضي د تېروتنو مسؤولیت

د اسلامي حکومت د شرعي اصولو موافق تر قانون یو څوک هم لوړ نه دی او د هر ډول مسؤولیت څښتن حکومتي شخص له قانون څخه د عمدي او قصدي نقض، سرغړونې، جعل، تزویر او ... د ارتکاب په وخت کې محاکمه کېدلای شي، د شرعي محکمې قاضي که د حکم په اصدار کې تېروتنه وکړي نو د قاضي دغه تېروتنه بېلا بېل صورتونه لري؛ د امام اعظم ابوحنیفه (رحمه الله تعالی) د مذهب په بناء په بعضې صورتونوکې یې مسؤولیت او ضمانت نشته او په بعضې نورو صورتونو کې قاضي مسؤول او ضامن دی.

**لومړی صورت:** که قاضي له خپل ټول کوښښ سره په حکم کې تېروتنه وکړي نو که یې حکم په حق الله (حقوق عامه) کې کړی و مسؤولیت یې نشته او ضامن هم نه دی؛ ځکه قاضي صاحب خو د خپلې سعیې په بناء دخلکو د حقوقو د ساتنې پوره هڅه وکړه؛ نو اوس چې تېروتنه یې وکړه په دې کې د قاضي شخصي ګټه نشته او نه کوم شخص ته ځانګړی او مخصوص ضرر شته، بناءً که یې تاوان ورسېده هغه به هم له بیت المال څخه اداء کیږي.

**دویم صورت:** که چېرته هغه شی چې قاضي وربانديې حکم کړی دی او وروسته جوته شوه چې حکم صحیح نه دی، تېروتنه شوې ده؛ نوکه چېرته د قاضي حکم په حق العبد برخه کې وي او هغه شی هم موجود و، هلاک شوی نه وي نو له محکوم له څخه به هغه مقضی به شی (په کوم شي چې فیصله شوې) بېرته مقضی علیه (محکوم علیه) ته سپارل کیږي، او که چېرته هغه شی چې قاضي وربانديې حکم کړی دی هلاک شوی وي نو ضمان به یې محکوم له پرې کوي.

**درېیم صورت:** که چېرته قاضي قصداً سره له پوهې داسې حکم صادر کړي چې هغه د حق او حقیقت خلاف وي مظلوم ظالم تعبیر کړي او ظالم مظلوم وګڼي او د حق پرېکړې په ځای د الله تعالی مقدس قانون شریعت د خپلو خواهشاتو قرباني کړي د الله تعالی حقوق ضایع کړي او یا د بندګانو حقوق تلف کړي نو په اخروي لحاظ سخت مسؤول او د لوی جنایت مرتکب دی او د هغه ټولو وعیدونو مصداق دی چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په احادیثوکې د قاضي په اړه بیان کړي دي چې مخکې د ترهیب عن القضاء تر عنوان لاندې یې یادونه وشوه یعنې د قاضیان في النار، او د ان الله مع القاضي مالم یجر د سخت وعید مستحق دی او د الله تعالی د نصرت څخه محروم دی، په ذکر شوي جنایت د قاضي د اقرار او اثبات په صورت کې په حق العبدي برخه کې

[1] - د پکتیکا ولایت د خوشامند د ابتدائیه محکمې مفتي

نومـوړی غیر عـادل قـاضي ضامـن دی او د هغـه کسـانو د تـاوان پـوروړی دی چې د هغـوی حقـوق یې تلـف کـړي دي، سربېره پر دې د قضاء لـه مقدس اوسپېڅلي منصب څخـه عـزل کېـږي او د تعزیر مسـتحق دی ـ نعوذبا الله من ذالـک، پـه دې اړه فقهي جزئيات ډېر دي چې دا مختصره مقالـه کې یې ځای پر ځای کـول ناشوني دي.

**د قاضي ټاکنه د امیرالمؤمنین صلاحیت دی**

دا چې د قضـاء منصب د اسلامي شریعت لـه نظره تر ټولـو نـورو حکومتي ادارو مهم منصب دی، بناءً د شریعت مطهـره لـه نظره قاضي باید په خپله امام یعنې د مسلمانانو مشرتابـه وي، امیرالمؤمنیـن کـولای شي د خپـل صلاحیـت پـه اساس د اړونـد سیمو لپاره نـور قضاة وټاکي او پـه اسلامي نظام کې قاضي د امیرالمؤمنین نائب دی؛ تر څو د خلکـو کارونـو تـه پـه مناسب وخت کې رسېدنه وشي او دا صلاحیت یـوازې د امیرالمؤمنیـن دی چې خپـل نائب قـاضي وټاکي تر څو د امـام په نیابت د خلکـو ترمنځ حکم او فیصلـه وکـړي، پـه دې اساس د قضاتـو ټاکنـه یـوازې لـه امیرالمؤمنیـن سره تعلق لـري او د دغه ستر منصب لپاره د افرادو تعین نصب او عـزل د امیرالمؤمنیـن مسـؤولیت دی، البتـه امیرالمؤمنیـن د خپـل صلاحیـت پـه اسـاس د استخلاف پـه صورت کې ستـرې محکمې تـه واک ورکولای شي چې د قضاتـو نصب او عـزل وکـړي.

**د قضاء لپاره د صالحو قضاتو انتخاب واجب دی**

الله تعالـی پـه قرآنکریم کې مسلمانانو تـه هدایت کـړی دی چې امانات (حکومتي مسـؤولیتونه) هغه چاته وسپارئ چې صلاحیت یې لـري، الله تعالـی فرمایي: ان الله یأمرکم ان تؤدوا الامانـات الـی اهلها - الایـه ـ ژبـاړه : بېشکه الله تعالـی تاسو پـه دې امـر کـوي چې مسـؤولیتونه اهلیت لرونکـو کسـانو تـه وسپارئ ـ اسلام هـر مسـؤولیت امانت بللـی دی او پـه دې ټینـګار شـوی دی چې مسـؤولیتونه دې د اشخاصو د صلاحیت اهلیت او وړتیا په اساس مسؤولینو تـه وسپارل شي او د ډموکراسۍ د خـود ساخته قانـون پـه څېـر یې مسـؤولیتونه داسې مطلـق نـه دي پرې ایښـي چې هـر څـوک پـه خپلـه ځـان ورتـه منتخب کـړي او یایې پـه زر، زور، او واسطه بې لـه کـوم اهلیـت څخـه د څـو رایـو پـه ګټلو خپـل کـړي او ځـان پـه ټولو خلکـو واکمن کـړي، د اسلامي نظـام قاضي پـه اصـولي لحاظ تر ټولـو نـورو حکومتي مسـؤولینو لـوړ مقـام لـري لـه دې املـه چې قضائیـه قوه د اسلامي نظـام د حکـم یوازینـۍ مرجـع ده او د مسلمان قاضي لپاره شریعـت خپـل صفـات او شرایـط ټـاکلي دي، هـر شـخص نـشي کـولای د قضاء مهـم منصـب مسـؤولیت پـه مسـؤولانه توګـه تـرسره او د قضـاء اداره کنټـرول کـړي لـه دې املـه کـوم څـوک چې د قـاضي یـاد شـوي شرايط او صفـات ونـه لـري قضـاء یې یـا صحت نـه لـري او یـا مکروه ده.

ځکـه اسلامي شریعـت پـه دې تحریـض کـړی چې د مسلمانانو قـاضي بایـد د قضـاء د منصب لپـاره اهـل شخصیت وي، بناءً پـه امیرالمؤمنیـن او د هغـه پـه نائب چې امیرالمؤمنیـن ورتـه د قضاتـو د عـزل او نصـب واک یعنـې استخلاف ورکـړی دی واجـب دي چې د قضـاء د ستـر منصب لپـاره وړ کسـان انتخـاب کـړي او هغـه ټـول شرایط او صفات ولـري چې د یوه مسلمان قـاضي لپاره یې وجـود اړیـن دی.

هغـه صفـات چې د قـاضي لپـاره یې وجـود مستحب دی امیرالمؤمنیـن او د هغـه نائب ته مستحب ده چې د قضاء د کـمال درجـه لرونکي قضـات نظام تـه پیـدا کـړي او د مسلمانانو پـه مشرتابـه لازمـه ده چې د امکان ترحـده د قضـاء لپـاره د مسلمانانو علماوو څخـه غـوره، ډېـر صالح او د قضـاء د صلاحیـت او قـوت څخـه برخمـن اشـخاص انتخـاب کـړي ، ترڅـو د قضـاء لپـاره منتخب کـړل شـوی شخص پـه کامل عدالـت سره د خلکو ترمنځ فیصلې وکـړي اوشرعـي قانـوني احـکام صـادر کـړي.

**نور بیا...**

# افتاء او قضاء

## دویمه او وروستۍ برخه

مفتي محمدګل سعید[1]



**د افتاء آداب:**

کـه چېرې پـه عـالم بانـدې فتـوی تعیـن او فـرض شـوې نه وي، غـوره داده چـې د فتـوی لپـاره ځـان کاندیـد نـه کـړي؛ ځکـه پـه دې کار کـې لـه داسـې خطـر سره مخ کېـږي چې تحمـل يـې ډېـر ګـران دی؛ مګـر کـه پـه ځـان بـاوري وي او ددې خطـر مقاومـت کـولای شي، نـو بيـا کېـدای شي چـې کاندیـد کېـدل ورتـه زيـات ګټـور تمـام شي، ځکـه د الله تعالـی پـه نـزد بـه يـې اجـر زيـات وي، خـو هغـه څـوک لـه خطـر څخـه ډاډمـن کېـدای شي چې لانـدې صفـات ولري.

۱ـ پـاک او صالـح نيـت: يعنـې لـه فتـوا ورکولو نه يې مقصد د الله تعالـی احـکام بيانـول وي او بيـا د دې احکامـو د عملي کولـو امـر وکړي.

۲ـ د ډېـرې زده کـړې پـه پلټنـه کـې بـه وي تجربـه بـه پيدا کـوي.

۳ـ حلیـم او باوقـاره شـخص بـه وي، له عجلې او تلوار څخه بـه کار نـه اخلي، يـوازې پـه ظواهـرو بـه اکتفـاء نـه کـوي؛ ترڅـو چـې باطـن يې ځان تـه نـه وي معلوم کـړی، د هر کار پـه اجـرا کولـو کـې بـه لـه زيـات غـور او څېړنـې څخـه کار اخلي.

۴ـ مفتي بايـد د خلکـو لـه حـال څخه خبر وي، د هغوی له نېکـو او بـدو څخـه بايد ځان خبر کـړي، د هغوی نېک او بد مقاصـد ځـان تـه معلومول ډېـر ضروري او لازمـي دي، البته ددې معلومـول لـه خلکـو سره پـه اختـلاط سره حاصلېږي او کـه دا ونـه کـړي نـو ډېـر زر بـه باطـل ته حـق ووايـي او حق تـه باطـل، ظـالم بـه مظلـوم وګڼـي او مظلوم به ظـالم، ځکه هغـوی تـل هڅـه کـوي چـې ډول ډول چلونـه او حیلـې ورته جـوړې کـړي ترڅـو خپلو شـومو اهدافـو ته ځانونه ورسـوي.

۵ـ چـې کلـه دا منصـب حاصلـوي نـو بايـد چـې مخکـې له دېنـه د ځـان لپـاره د حـلال رزق او روزي مـدرک ولټـوي؛ ترڅـو خلـک د دې لاره پيـدا نـه کـړي چـې غلط تورونـه ورپسـې ولګـوي.

٦ـ چـې کلـه ورتـه ځواب معلـوم نه وي نـو پـه کار ده چې معـذرت وغـواړي او مسـتفتي تـه ووايـي چـې ماتـه د دې ځـواب معلـوم نـه دی، رسـول الله(صلـی الله علیـه وسـلم) څـو ځلـه دا خبـره کـړې او ويلي يـې دي چې ماتـه معلوم نه دی، زه نـه پوهيـږم.

٧ـ ورتـه پـه کار ده چـې پـه ځـواب کـې زيات فکـر وکـړي، لـه تلـوار څخـه کار وانـه خلي، پـه دې بايـد ځان پـوه کـړي چـې د انسـان طبيعـت عجله خوښـوي، مګر شريعـت يې له عجلې او تلـوار څخـه منعـه کـوي.

**د مفتي آداب:**

۱ـ د مفتـي لبـاس او حالـت بايـد پـاک وي، د شريعـت لـه اصولـو سره برابـر وي، مطلـب دا چـې د نظافـت او طهـارت مراعـات وسـاتي، عـورت يې پټ وي، د وربېښـمو او سرو زرو

[1]- ليکوال، د ديني علومو مدرس او څېړونکی

له استعمال څخه باید ډډه وکړي، کوم لباس چې شعار د کفارو وي له هغه څخه ځان وژغوري.

۲ـ خپل سیرت او تګلاره به یې د شریعت موافق برابره وي، اعمال او اقوال به یې د شریعت برابر وي، ځکه د الله تعالی د احکامو بیان کوي نو لازمه ده چې د خلکو لپاره قدوه وي، او دغه راز په دې سره د لوړ او عظیم مقام څښتن ګرځي.

۳ـ د مفتي ظاهر او باطن باید پاک وي، باید صحیح او پاک نیت ولري.

۴ـ مفتي چې د کومې پوښتنې فتوی ورکوي په هغې باید خپله عمل وکړي؛ ترڅو چې قول د فعل مخالف رانشي، ځکه که داسې شي نو د الله تعالی د غضب او قهر سبب به وګرځي، الله تعالی په دې اړوند فرمایلي دي: کبرمقتاعندالله ان تقولوا مالاتفعلون.

ژباړه: د الله تعالی پر وړاندې دا ډېر ناوړه حرکت دی چې تاسې هغه څه ووایې چې کوی یې نه.

که مفتي په خپله فتوی عمل وکړي، نو فتوی به یې رښتینې او ګټوره وي، قول به یې د فعل مطابق وي، دواړه به یو بل تقویه کوي.

۵ـ مفتي باید د فتوی ورکولو په حالت کې د خپل حالت مراعات وساتي، د مصروفیت، قهر او شهوت پر مهال فتوی ورنکړي او نه به د غم او خوشحالۍ په حالت کې فتوی ورکوي، که یې فکر خراب ؤ صحیح او سالم کار یې نه کولو په دې وخت کې هم په کار ده چې فتوی ورنکړي؛ ترڅو بېرته خپل طبیعي حالت ته نه وي ګرځېدلی.

٦ـ مفتي به په داسې معاملاتو کې فتوی نه ورکوي چې هغه دده په قریبانو پورې تړاو لري، ځکه د هغوی لپاره یې شهادت نه صحیح کېږي، نو فتوی هم نشي ورکولای، مګر دا هغه مهال چې دده فتوی د هغوی په ګټه وي، دغه راز دښمن ته هم فتوی نشي ورکولای که فتوی یې د هغه په تاوان او ضرر وي، ځکه شونې ده دښمني یې دېته اړباسي چې په فتوی کې درغلي وکړي.

۷ـ مفتي باید الله تعالی ته توجه وکړي، زیات پرهېزګار او متقي و اوسیږي، تل د حق پلټنه وکړي، حق له هرڅه ورته مهم او ارزښت ولري، په خپل علم مغرور نه شي او له الله تعالی څخه تل په وېره کې وي.

۸ـ مفتي باید د مستفتینو رازونه چاته ښکاره نه کړي، مستفتي د شریعت د حکم غوښتنه کوي؛ ترڅو هغه عملي کړي او دا کار یې کله کله دې ته اړباسي چې ځینې خپل پټ رازونه او غیر مباح شیان مفتي ته بیان کړي، که مفتیان د دوی دا رازونه پټ ونه ساتي دا به ددې سبب شي چې بیا به مستفتیان خپل واقعات په صحیح ډول مفتیانو ته نه بیانوي.

د مستفتي د حال په مراعات کولو کې د مفتي آداب:

۱ـ د پوښتنې کوونکي د حالت او خصوصیت مراعات، دا د اجتهاد تر ټولو لوړه مرتبه ده، داسې ځواب به ورکوي چې د هغه د خصوصي حالت برابر او موافق وي.

۲ـ د مستفتي د استعداد مراعات به ساتي، دا به ځانته معلوموي چې په څه اندازه هغه دا فتوی منلی شي، د هغه ذهن په کومه اندازه فهم او درک کولای شي، د خلکو استعدادونه توپیر لري، ځینې قوي استعدادونه لري او ځینې کمزوري وي.

۳ـ د مستفتي له غوښتنې څخه باید زیات توضیحات ورکړل شي، دا ځکه چې کله کله د مستفتي له حال څخه داسې څرګندیږي چې دی له هغې پوښتنې چې کړې وه یو بل شي ته هم اړتیا لري.

۴ـ مفتي ته په کار ده چې کله کله د مستفتي پوښتنې ته ځواب ورنکړي او د نورو شیانو ځوابونه ورته بیان کړي، ځکه دغه شیان به د هغه لپاره ګټور او مفید وي او دې ته اسلوب حکیم ویل کېږي، چې حکمت یې څرګند او واضح دی.

دغه اسلوب حکیم په قرانکریم کې دوو ځایونو کې راغلی دي:

لومړی: الله تعالی فرمایلي دي: یسألونک ماذاینفقون قل ماانفقتم من خیر فللوالدین والاقربین والیتامی

والمساکین وابن السبیل.

ژباړه: خلک پوښتنه کوي مور څه مصرف کړو؟ ځواب ورکوه چې کوم مال چې تاسې لګوئ پر خپل مور او پلار، خپلوانو، یتیمانو، مسکینانو او مسافرو باندې یې ولګوئ او تاسې چې هره ښېګڼه کوئ الله (جل جلاله) پرې خبرېږي.

دویم: الله تعالی فرمایلي دي: یسألونک عن الاهلة قل هی مواقیت للناس والحج.

ژباړه: خلک له تا څخه د سپوږمۍ د نرۍ کېدو او غټېدو په باب پوښتنه کوي، ووایه: دا د خلکو د نېټو ټاکلو او د حج نښانې دي.

دوی پوښتنه کړې وه چې دا سپوږمۍ ولې دومره کوچنۍ کېږي، او بیا غټېږي او بیا بېرته کوچنۍ کېږي؟ نو الله تعالی د دې ځواب ورنکړ او د سپوږمۍ ګټه او نفع یې ورته بیان کړه.

۵ــ مستفتي باید سمې او مستقیمې لارې ته برابر کړي، اسلامي شریعت عادلانه او مستقیم شریعت دی، په بشپړه توګه له فطرت سره برابر دی، که څوک له دې فطرت څخه ووتلو په داسې ډول چې یا په ځان باندې سختي راولي یا یو لړ سخت عبادت په ځان لازم وګرځوي، د شریعت پراخي او رحمت ورته بیان کړي. رسول الله (صلی الله علیه وسلم) خپل صحابه له دایمي روژې څخه منعه کړل، او که چا له دین څخه سرغړونه کوله او د فرایضو په عملي کولو کې یې تقصیر کاوه په مفتي لازمه ده چې د الله تعالی له عذاب څخه یې وډار کړي؛ ترڅو چې په راتلونکي کې بیا د داسې کارونو جرأت ونه کړي.

٦ــ د مستفتي لپاره د حلالو دروازه پرانستل، که چیرې هغه د حرامو پوښتنه کړې وي. د دې مثال دادی که چېرې مستفتي د رشوت، سود او حرامو کسبونو پوښتنه کوي او یا د شکلي وهمیاتو شیانو پوښتنه د دې په خاطر کوي چې ګنې دا فتوی به یې ورته حلال کړي، نو مفتي ته په کار ده چې د دغه عمل د حراموالي څخه یې خبر کړي، د رزق یا روزي لاسته راوړلو نورې لارې چارې ورته وښايي، د دواړو یعنې حلالو او حرامو کسبونو په عواقبو یې خبر کړي.

**د فتوی په پېژندنه کې توثیق:**

که چیرته مفتي د حدیث په رڼا کې فتوی ورکوي، نو لازمه ده چې په هغه حدیث پوه وي، دا کفایت نه کوي چې څو ځله یې اورېدلی وي او یا یې په کوم ځای کې ویلی وي، او نه دا کفایت کوي چې په کوم کتاب د فقهې کې یې لیدلی وي؛ بلکه صحیح او ثقه مأخذ به یې ذکر کوي، او یا به د خپل مسلک څخه د هغه صحت نقل کوي، د مفتیانو په منځ کې چې کوم اختلاف په فتواګانو کې راغلی زیاتره یې د همدې ضعیفو حدیثونو په اساس راغلی دی.

دغه راز مقلد مفتي ته په کار ده چې له کوم کتاب څخه څه نقلوي د هغه په صحت او نسبت کې له غور او څېړنې څخه کار واخلي، هغه قول به نقلوي چې صاحب ته یې نسبت ثابت وي .

ابن عابدین (رحمه الله) له فتاوی د ابن حجر شافعی (رحمه الله) څخه نقل کړی وایي: یوازې له کتابونو څخه د علم زده کړه پرته له دې چې علماوو ته کښېنې صحیح نه ده، او نه صرف له کتابونو څخه فتوی ورکول صحیح دي؛ آن تردې چې امام نووي (رحمه الله) وایي: له ۱۰ یا ۲۰ کتابونو څخه هم فتوی ورکول صحیح نه دي، ځکه کېدای شي ټولو صرف په ضعیف قول اتکاء کړې وي، مګر څوک چې له علماوو څخه زده کړه ترسره کړي دغه کار ده ته استعداد او ملکه ور په برخه کوي چې په دې سره د صحیح او غلط تمیز او توپیر کولای شي.

**د مستفتي آداب:**

هر هغه څوک چې له مفتي نه فتوی غواړي او د مفتي درجې ته نه وي رسېدلی هغه ته مستفتي ویل کېږي.

د مستفتي لپاره دا لاندې آداب کتابونو لیکلي دي:

۱ــ د مستفتي لپاره په کار ده چې له داسې مفتي نه فتوی وغواړي چې ده ته یې علمیت او عدالت معلوم وي، له مجهول الحال مفتي نه باید فتوی ونه غواړي، د

دې لپاره چې په فتوی باندې يې پوره يقين راشي.
۲ــ مستفتي ته په کار ده چې په داسې حال کې له مفتي څخه پوښتنه ونه کړي چې مفتي ولاړ وي، يا اراده د ولاړې لري او يا په څه کار کې مشغول وي، ځکه چې په دې وخت کې يې ذهن او فکر فتوی ورکولو ته فارغ نه وي.
۳ــ مستفتي ده چې کله مفتي ځواب ورکړي نو په دې وخت کې به مستفتي نه وايي چې ماهم دارنگه ويل، يا ماهم داسې اورېدلي دي، يعنې دا ځواب ماته هم معلوم و او نه به په دې وخت کې له مفتي نه د مسئلې دليل غواړي او که خامخا دليل غواړي نو بل وخت کې به يې ترېنه غواړي نه د فتوی غوښتلو په وخت کې.
۴ــ د مستفتي لپاره په کار ده چې د فتوی غوښتلو لپاره مفتي ته ورشي که په نږدې سيمه کې مفتي نه و نو لرې دې په مفتي پسې سفر وکړي، ځکه چې مخکنيو عالمانو به د يو حديث او د يوې مسئلې د زده کړې لپاره لرې لرې سيمو ته سفرونه کول، چې بېلگې يې د بخاري شريف په کتاب العلم کې شته دي.
۵ــ د مستفتي لپاره په کار ده چې د مفتي ادب او احترام وکړي او په ښو القابو به ورته خطاب کوي، د مفتي په مخ کې دې په لاس اشارې نه کوي او نه به ترېنه دا پوښتنه کوي چې په دې مسئله کې د امام شافعي يا..... مذهب څنگه ده، او نه به مفتي ته وايي چې ما ته هغه بل مفتي هم داسې ځواب راکړی دی.
صميري (رحمه الله) ليکلي چې کله مستفتي له مفتي څخه فتوی غواړي نو داسې دې د استفتاء په کاغذ کې وليکي: (ماتقول رحمک الله) يا (رضی الله تعالی عنک) يا (وفقک وسددک و رضی عن والديک) داسې به نه ليکي: (رحمناالله و اياک)، همدارنگه مستفتي بايد د مفتي په مخ کې د فتوی غوښتلو کاغذ خپور کيږدي ترڅو چې مفتي يې په خپرولو تکليف نه شي.

**په فتوی کې شدت او آسانتيا:**

مفتي بايد په فتوی ورکولو کې له اسانۍ څخه کار واخلي؛ يعنې مستفتي ته به په مستحباتو يا په هغو احکامو کې چې شارع اختيار ورکړی وي داسې فتوی ورکوي چې د هغه له حال سره مناسب وي، په دغسې احکامو کې به له سختۍ او شدت څخه کار نه اخلي، ځکه که سختي وکړي، کېدای شي د هغه زړه ور څخه تور شي، بيا به يې منلو ته زړه نه ښه کوي او دا امکان هم شته چې د هغه مال، نفس او حالت ته خطر پېښ کړي.
خو له آسانۍ څخه به دا مطلب نه اخلي چې محرمات ورته مباح وگرځوي، واجب پرېږدي، فاسد ته صحيح ووايي او صحيح ته فاسد، ځکه دا په شريعت کې فساد دی او د شريعت د له منځه وړلو لامل گرځي، دغه معنا چې موږ د سختۍ او سهولت وکړه خپله د حديث له سياق څخه ځرگنديږي، بشپړ حديث په دې ډول دی « تاسې خپلو منځو کې سره نږدې شئ خاليگاوې مه پرئږدئ، زيری ورکړئ ځکه يو هم په خپل عمل سره جنت ته نه شئ داخلېدلای او بل حديث کې راغلي دي: تشدد او سختي مه کوئ ځکه بيا به الله درباندې سختي راولي.
که چېرې مفتي ته وروسته له څېړنې او اجتهاد څخه ځرگنده شي چې حکم هم دادی بيا نه ده روا چې په خلاف د هغه فتوی ورکړي، اگر که په حکم کې سختي او شدت هم وي، تر هغه پورې چې د انسان په توان او طاقت کې وي، په ځينو ځايونو کې به مفتي له سختۍ او شدت نه کار اخلي، له دې نه دا مطلب نه دی چې په کومه مسئله کې د شارع له پلوه رخصت راغلی وي نو مفتي دې هغه رخصت له منځه يوسي، بلکه په دغسې رخصت دې عمل وکړي او فتوی دې ورکړي؛ بلکه په ځينو مواردو کې چې مصلحت په سختۍ او شدت کې وي نو مفتي دې له شدت او سختۍ نه کار اخلي.
صميري (رحمه الله) وايي: عالم کولای شي بېسواده سړي ته په داسې سختۍ او شدت سره فتوی ورکړي چې دی يې معتقد نه وي، او د هغه لپاره تاويل ولري، دا په دې خاطرچې هغه له دارنگه کارونو څخه منعه کړي او له

ګناه څخه ورته نجات ورکړي.
مفتي بايد په افتاءکې سياست په نظر کې ونيسي، له حضرت ابن عباس (رضی الله عنهما) څخه نقل دی چې يوه ورځ يوه سړي له ده څخه پوښتنه وکړه او وويل: څوک چې مسلمان قتل کړي آيا د هغه توبه قبليږي ؟ ابن عباس (رضی الله عنمها) ورته وويل: نه! او د ده ځای دوزخ دی،کله چې سړی لاړ؛ ملګرو يې وويل: اې ابن عباس! تاخو به موږ ته ويل چې توبه يې قبليږي؟ ابن عباس وويل: دا سړی ډېر په غصه او قهر دی ماته ښکاري غواړي يو مسلمان ووژني» راوي وايي کله چې موږ په هغه سړي پسې څوک ولېږل، نو هماغسې کار يې کولو چې ابن عباس ويلي و، کېدای شي ابن عباس په دې نظر و چې دا سړی په خپله توبه کې صادق نه دی.
په غلطه ياخطاء شوې فتوی کې ثواب او ګناه:
که مفتي د علماوو له ډلې وي، د فتوی ورکولو شرايط يې پوره کړي وي، حق ته د رسېدلو لپاره يې زيار او کوښښ ګاللی وي، بيا يې د خپل غالب ګومان فتوی ورکړه او خطا شو، نو په دې خطا کې کومه ګناه نشته، ځکه چې په دې لاندې قاعده کې داخل دی او پر هغې د الله تعالی دغه آيت دلالت کوي: «وليس عليکم جناح فيما أخطأتم به ولکن ماتعمدت قلوبکم.
ژباړه: او نشته پر تاسې هېڅ ګناه په هغه شي کې چې تاسې په کې خطاء شوي يې، (لکه چې وايي زيد بن محمد) و، مګر شته ګناه په هغه شي کې چې قصد يې وکړي زړونه ستاسې.
د اجتهاد ثواب او اجر يې محفوظ دی په خطا سره له منځه نه ځي، ځکه شارع ورته په فتوی ورکولو امر کړی، نو مجتهد هغه کار ترسره کړی چې امر ورته شوی و او په دې سره مستحق د اجر او ثواب وګرځېده خو دومره خبره ده چې اجر يې د مصيب په شان نه دی، ځکه هغه حق وښود او بيان يې کړ او دی په کې خطا شو حق ته ونه رسېد.

د دې لپاره دليل هغه متفق عليه حديث دی چې وايي: حاکم چې کله فيصله وکړه او اجتهاد يې کړی وي په خپل اجتهاد کې مصيب شوی وي ده لره دوه اجره دي او که په اجتهاد سره فيصله وکړي مګر په خپل اجتهاد کې خطاشو نو ده لره يو اجر دی، دغه حديث اګر که د قاضي په باره کې راغلی مګر مفتي هم ورباندې قياس کېدای شي، ځکه دواړه د شرعي حکم په اصدار سره مامور کړای شوي دي، له همدې امله په خطا کې معذور شمېرل کېږي.
او که داسې چا فتوی ورکړه چې د فتوی اهليت يې نه لاره او بيا خطا شو، او يا اهل د فتوی ورکولو وو مګر حق ته د رسېدلو لپاره يې زيار او زحمت نه وګاللی، دارنګه مفتي معذور نه ګڼل کېږي، بلکه ګناهکار دی، ځکه د الله (جل جلاله) له لارې څخه يې سرغړونه وکړه، الله تعالی په دې اړوند داسې فرمايلي دي: ليحملوا اوزارهم کاملة يوم القيامة ومن اوزار الذين يضلونهم بغيرعلم آلاساء مايزرون.
ژباړه: دغه خبرې هغوی د دې لپاره کوي چې د قيامت په ورځ خپل پېټي هم پورته کړي او ورسره يو څه د هغو خلکو پېټي هم يو ځای کړي چې دوی هغوی د جهالت په اساس بېلارې کوي. ګورئ! څومره سخت مسؤوليت دی چې دوی يې په خپله غاړه اخلي.
**د فتوی اهميت:**
د انسانانو د ضروورياتو سره سم چې کوم مسائل د پوښتونکو د ځواب په توګه بيان شوي او د کتابونو په شکل ليکل شوي دي هغو مسئلو ته د فتاوی نوم ورکړل شوی دی، چې دغه له قرآن، حديث او فقهي نه را ايستل شوې عام فهمه او اسانه مسئلې د مسلمانانو لپاره له ډېرو کړاوونو او ستونزو نه نجات ورکونکي دي، د فتاواګانو دغه ميدان د انسانانو له اړتياوو او ضروورياتو سره نور هم پراخ شو، د انسان د ژوند د بېلابېلو اړخونو په اړه چې کوم ډول مسائل رامنځته کېږي هغومره د قرآن، حديث

او فقهې څخه د را ایستل شویو مسئلو په ذخیره کې هم اضافه والی راځي، ځکه نو نن د انسان د ژوند په اړه داسې پوښتنه نشته چې د هغه ځواب مفتیان عوامو ته نشي ورکولای. افتاء یو داسې فن دی چې هیڅوک له دې نه د خلاصون لاره نه مومي، ځکه چې په انساني ژوند کې چې څومره واسطه د انسان له دې فن سره راځي او څومره چې هره ورځ د مسائلو ځواب په دې فن کې ترلاسه کېږي بل ځای امکان نه لري.

دفتواګانو د پاڼو ضبط او ساتل ضروري دي:

په هغه فتوای کې چې لیکل شوې وي د نورو فتواګانو په پرتله له زیات احتیاط څخه کار اخیستل په کار دي. مفتي باید زیاته پاملرنه او توجه ورته وکړي، مفتي باید په لیکلو کې زیات احتیاط وکړي، ترڅو نور خلک په کې تغیر او تبدیل ونه کړي. غوره داده چې پوښتنه او ځواب په څرګند او واضح خط ولیکل شي، ترڅو یې په لوستلو کې مشکل پیدا نه شي او هم له تحریف او بدلون څخه وژغورل شي، داسې الفاظ باید اختیار کړي چې تغیر او بدلون په کې نشي راتللی، خط باید په نرموالي او پنډوالي کې یو برابر وي د دوو مختلفو قلمونو له استعمال څخه ډډه وکړي ترڅو مستفتي په لاس وهنه سره تورن نه شي.

همدارنګه مفتي ته په کار ده چې خپله فتوی د الله تعالی په ثناء سره پیل کړي، ځکه قرآن او د رسول الله) صلی الله علیه وسلم) لیکونه په بسم الله سره پیل شوي دي او که بسم الله او الحمدلله دواړه جمع کړي دا به لا غوره او بهتره وي.

د ځواب په پای کې به خپل نوم په واضح خط لیکي، بیابه یې لاسلیک کړي، همداراز فتوی به په لنډ او واضح عبارت سره وي، هېڅ مشکل به په کې نه وي او ټول هغه څه به په کې لیکل شوي وي، کومو ته چې مستفتي اړتیا لري.

له دې سره سره باید له اوږدوالي څخه ډډه وکړي، ځکه دا ځای د وعظ، تعلیم او تصنیف نه ده؛ بلکه ددې ځای غوښتنه داده چې په لنډو الفاظو سره ولیکل شي په پای کې باید مخکې له اصدار د فتوی څخه مفتي باید بیا یو ځل سوال او ځواب ته مراجعه وکړي، او په ډېر احتیاط یې وګوري، ځکه کېدای شي له تلوار څخه یې کار اخیستی وي، یا د لیکلو په وخت کې کوم مصروفیت ورته پیدا شوی وي چې له لیکلو څخه یې فکر بلې خواته اوښتی وي، په دې اساس لازمه او ضروري ده چې له اصدار نه مخکې یې بیا ولولي.

**په اوسنۍ زمانه کې د فتوی کار**

په اوسنۍ زمانه کې د افتاء د منصب خاوندان درې ډوله کار کوي:

۱ـ تخریج: یعنې د کومو مسئلو په اړه چې د فقهاوو رایه نه وي نقل شوې لکه د اوسنۍ زمانې مسائل، د فقهاوو د مقررو اصولو او قواعدو په رڼا کې رایه قائمول، ځکه چې په هره زمانه کې نوې نوې مسئلې پیدا کېږي د هغه حکم معلومول د علماوو ذمه واري ده.

۲ــ ترجیح: دغسې خو فقهاء کرامو د متقدمینو د اختلافي رایو په اړه ترجیحات متعین کړي دي، خو د ترجیح اساس یې د کومې رایې په اړه پر کوم نص نه دی اېښی د خپلې زمانې د عرف او مصلحتونو له امله، د داسې مسائلو په اړه د خپلې زمانې عرف او مصلحت په مخته اېښودلو فیصله کول.

۳ـ فتوی نقلول: دریېم کار دادی چې د کومې فقهې مقلد دی د هغه فقهې سره سم ځوابونه رانقل کړي.

په اوسنۍ زمانه کې مفتیان کرام دغه درې واړه کارونه کوي، لیکن ښه دادی چې اولنې دوه کارونه په انفرادي توګه د کولو پر ځای په اجتماعي توګه وشي.

وصلی الله تعالی علی خیر خلقه محمد و اله و اصحابه اجمعین.

# د سترې محکمې له قضائي معاون شيخ محمد قاسم (راسخ) صاحب سره د اسلامي عدالت ځانګړې خپرونه

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې قضائي معاون محترم شيخ محمد قاسم (راسخ) صاحب، د اسلامي عدالت خپرونه کې درته هرکلی او ښه راغلاست وايو او ډېره زياته مننه درنه کوو چې په دې خپرونه کې مو موږ ته د مرکې لپاره وخت راکړ، د اسلامي عدالت په دې خپرونه کې غواړو له تاسو ځينې پوښتنې ولرو ترڅو هېوادوال د سترې محکمې پر تشکيل سربېره د قضائي معاونيت په اصلي دندو او په قضائي برخه کې د اسلامي امارت د سترې محکمې په لاسته راوړنو خبر شي.

**لومړۍ پوښتنه:** محترم شيخ صاحب په پيل کې غواړو د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د معاونيتونو په اړه معلومات راکړئ چې د افغانستان اسلامي امارت قضائيه قوه کوم معاونيتونه لري؟

**ځواب:** الحمدلله رب العالمين والصلوة والسلام على محمد و على آله و اصحابه اجمين امابعد:
د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د عالي مقام د لزوم ديد له مخې ستره محکمه په خپل تشکيل کې څلور معاونيتونه (د مرکزي زون قضائي معاونيت، د جنوب لوېديځ زون قضائي معاونيت، د نظامي محاکمو معاونيت او اداري معاونيت) لري. د يادو معاونيتونه له جملې څخه د مرکزي زون قضائي معاونيت د هېواد د ۲۴ مرکزي، شمالي او ختيځو ولايتونو د محاکمو قضائي اجراآت ترسره کوي او د اړتيا په صورت کې د يادو ولايتونو د قضائي چارو څخه د هېوادوالو د نه رضايت عريضې ګوري او د نواقصو لرلو په صورت کې اړوند محاکمو ته لازم هدايت کوي، دغه راز د جنوب لويديځ زون قضائي معاونيت د جنوب لوېديځ زون د ۱۰ ولايتونو قضائي چارې ترسره کوي، د نظامي محاکمو معاونيت د هېواد په کچه د ټولو نظامي محاکمو اجراآت رهبري کوي او د اړتيا پر مهال د نظامي محاکمو د چارو بررسي کوي، اداري معاونيت بيا د هېواد د محاکمو اداري چارې کنټرولوي.

**دويمه پوښتنه:** شيخ صاحب که په لنډو کې د سترې محکمې د قضائي معاونيت چې په رأس کې يې تاسو قرار لرئ کاري استقامت

راته تشریح کړئ؟
**ځواب:** د قضائي معاونیت د کاري استقامت به په څو شمارو کې درته واضح کړم هغه داسې چې قضائي معاونیت لاندې عمده چارې رهبري او ترسره کوي:
۱- د اړوند ریاستونو د غونډو جوړول.
۲- د سترې محکمې د قضائي ادارو د اجراآتو څارنه.
۳- د اړوند عرایضو ملاحظه کول او مربوطه مراجعو ته يې استول.
٤- د سترې محکمې د عالي شورى په غونډوکې ګډون.
۵- د قضائي چارو د لاښه والي په موخه د سترې محکمې عالي مقام ته مشخصې طرحې وړاندې کول.
٦- د سترې محکمې د رئیس لخوا د ورسپارل شویو قضائي چارو سرته رسول.
۷- په قضائي چارو کې د محکمو او د قاضیانو وړاندیزونو ته رسېدنه کول.
۸- اړوند مراجعو ته د استهداګانو احاله کول.
۹- د رئیسانو، قاضیانو، مفتیانو او محررینو په هکله وارد شوي شکایات د څېړنې په موخه د سترې محکمې د قضائي پلټنې عمومي ریاست ته راجع کول.
۱۰- د قضائي غړو د قضائي پوهې د کچې د لوړولو په موخه د قضائي برنامو برابرول.
۱۱- قضائي معاون له خپلو اجراآتو څخه د سترې محکمې عالي مقام ته مسؤل دى.

**دریمه پوښتنه:** شیخ صاحب که د سترې محکمې د قضائي تشکیل په اړه راته ووایاست چې اوس مهال څومره قضائي تشکیل لرئ؟
**ځواب:** د سترې محکمې قضائي تشکیل په اړه که لومړی دا ووایم چې الحمدلله د افغانستان اسلامي امارت له حاکمیت وروسته د هېواد په ټولو ولایتونو او ولسوالیو کې محاکم فعال شوي او د هېوادوالو دوسیو ته رسېدنه کوي. د سترې محکمې قضائي تشکیل د مراجعینو د دوسیو شمېر ته په کتو ډېرېږي او ثابت نه دی، که هر ولایت او هره محکمه کې د دوسیو او مراجعینو شمېر ډېر وي هغه ته په پام په مربوطه محکمه کې د اړوند دېوانونو نور جزونه هم جوړېږي؛ د بېلګې په ډول د کابل ولایت ښاري ابتدائیه محکمه کې څلورو زونونو سربېره هر دېوان کې د (الف، باء او ځینو کې د جیم) جزونه زیات شوي دي.
د هېواد په کچه د درې ګونو محاکمو قضائي تشکیل (۲۱۱۱) کسان دی چې په دې کې قاضي صاحبان، مفتي صاحبان او محررین شامل دي.

**څلورمه پوښتنه:** شیخ صاحب که په دې اړه د قضاء مجلې لوستونکو ته معلومات ورکړې چې د سترې محکمې د فیصلې کولو او د مراجعینو دوسیو ته د کتنې مراحل څو دي؟ او ترتیب يې څه ډول دی؟
**ځواب:** د افغانستان اسلامي امارت سترې محکمې په تشکیل کې د هېواد ټول محاکم درې مرحلې لري (ابتدائیه مرحله، مرافعه مرحله او تمیز مرحله)، ترتیب يې داسې دی چې کله یو کس د خپل حق غوښتنه کوي د خپلې ولسوالۍ یا مرکز اړوند ابتدائیه محکمې ته به د رسمي عریضې لپاره مراجعه کوي، عریضه کې به ټول هغه موارد ذکر کړي چې نوموړی يې د خپل حق غوښتنې لپاره لازم ګڼي، وروسته به خپله عریضه ابتدائیه محکمې ته سپاري، اړوند ابتدائیه محکمه به د نوموړي عریضه په دقت ګوري او د دعوی دواړه لوري (عارض او معروض الیه) راغواړي، له دوی د موضوع په اړه تحقیقات کوي بیا د شریعت او اسلامي امارت د اصولو مطابق د دوی د دوسیې په اړه پرېکړه صادروي، که له جانبینو کوم یو د ابتدائیه محکمې په پرېکړه راضي نه وي نو کولای شي مرافعه طلبي وکړي او مرافعه محکمې ته عریضه وکړي، داسې واضح کړي چې ولې د ابتدائیه محکمې په پرېکړه رضایت نه لري؟ مرافعه محکمه يې عریضه ګوري که فرضاً د ابتدائیه محکمې پرېکړه کې نواقص موجود وي مرافعه محکمې يې اصلاح او د شریعت مطابق فیصله کوي، که په دې مرحله کې هم یو له جانبینو راضي نه وي کولای شي تمیز محکمې ته مراجعه وکړي او یاده محکمه هم د خپلو اصولو مطابق د دوی قضیې بررسي او رسېدنه ورته کوي.

**پنځمه پوښتنه:** شیخ صاحب یو څه چې د خلکو هم دې ته ډېر ضرورت دی هغه عریضې دي، که سترې محکمې ته د عریضو د سپارلو طریقه او اصول راته روښانه کړئ؟
**ځواب:** که کوم هېوادوال د ماتحت محاکمو د قضائي پرېکړو په تړاو رضایت ونه لري، یا د اړوند محکمې د قضائي غړو له چلند څخه راضي نه وي کولای شي د سترې محکمې د قضائي معاونیت په عنوان خپله موضوع په عریضه کې ولیکي، عریضه به د سترې محکمې اړوند د مراجعینو غرفو کې د مقام اړوند غرفې ته وسپاري، یادې غرفې ته سپارل شوې عریضې د مربوطه شخص لخوا د نوبت په اساس ترتیب او قضائي معاونیت ته انتقالېږي، قضائي معاونیت کې تر پوره مطالعې او کتنې وروسته پر عریضه اصولي احکام لیکل کېږي او بیا د همغه غرفې له طریقه عارض ته سپارل کېږي.

**شپږمه پوښتنه:** شیخ صاحب محاکمو ته راجع کېدونکې عریضه کې باید څه ولیکل شي؟ یعنې که کوم څوک غواړي محکمې ته عریضه وسپاري عریضه یې باید د کومو اصولو په اساس ترتیب شوې وي او کوم څه د عریضې په لیکلو کې حتمي دي؟

**ځواب:** عریضه چې څومره خلص او واضح ولیکل شي هغومره ګټوره ده؛ خو زه یې څو لاندې موارد دلته یادونه ضروري ګڼم چې عریضه لیکونکي ورته متوجه شي:

۱. عریضه کې باید د عارض او معروض علیه مکمل شهرت ولیکل شي.

۲. عریضه کې د موضوع خلاصه لیکل ضروري دي.

۳. عریضو ته د ښې او غوره رسېدنې په موخه د عریضې د ثبت دقیق تاریخ اړین او لازمي دی.

٤. د عریضې تاریخ باید قلم خور نه وي.

۵. عریضه باید خپله عارض چې دوسیه یې په جریان کې ده یا د وکالت د جواز نمبر په اساس د هغه د وکیل لخوا وړاندې شي.

٦. عارض باید په عریضه کې خپلې غوښتنې په روښانه او واضح ډول ولیکي؛ د بېلګې په توګه: د دعوی ځای، مدعی بها، د فیصلې شمېره او نېټه.

۷. د عریضه لیکونکي بشپړ شهرت باید عریضه کې موجود وي.

۸. د عارض موضوع چې ابتدائیه محاکمو کې جریان ولري، سترې محکمې ته د مراجعې پر مهال باید د مرافعه محکمې د اجراآتو کاپي ورسره ضمیمه وي؛ ترڅو دا روښانه شي چې عارض سترې محکمې ته د عارض کېدو څخه مخکې مربوطه مرافعه محکمې ته مراجعه کړې ده.

۹. عریضه کې د عارض شصت/لاسلیک ضروري دی.

۱۰. د عارضینو عمومي مدیریت د عرایضو په برخه کې د ښه والي او څارنې په موخه باید پورته یاد شوي ټکي او مطابق تر جدي کنټرول لاندې ونیسي.

**اوومه پوښتنه:** د اسلامي امارت درې ګونو محاکمو په تېر ۱۴۰۲ هـ ش کال کې څومره قضیې حل او فصل کړې دي؟

**ځواب:** د افغانستان اسلامي امارت درې ګونو محاکمو د ۱۴۰۲ هـ ش کال په جریان کې په ابتدائیه، مرافعه او تمیز مرحله کې مجموعاً (۱۷۵٦۵۷) دوسیې حل او فصل کړې دي، له دې جملې څخه (۱۴۴۲۷۴) دوسیې په ابتدائیه مرحله، (۲۵۰۳۷) دوسیې په مرافعه مرحله او (٦۳۴٦) دوسیې په تمیز مرحله کې حل او فصل شوې دي، او په همدې موده کې (۱۷۴۳۰۵) وثیقې هم اجرا شوې دي.

**اتمه پوښتنه:** شیخ صاحب که په دې هکله هم معلومات راکړئ چې د خلکو مشکلاتو ته په کومه کچه رسېدنه شوې ده او ولس د محاکمو له چارو څومره راضي دئ؟

**ځواب:** د افغانستان اسلامي امارت قضائیه قوې محترم عالي مقام په محاکمو کې د مراجعینو ستونزو ته د رسېدو په موخه ډېر ګټور او شفاف ترتیب برابر کړی دی، داسې چې که هر هېوادوال مشکل ولري په ډېره اسانۍ او ساده لاره خپله ستونزه له اړوند محکمې سره شریکولای شي، دغه راز د محاکمو تر پرېکړو وروسته هم قضائیه قوې مراجعینو ته د خپلو ستونزو د حل لاره جوړه کړې ده، یعنې زه په ډاډ ویلای شم چې محاکمو کې د اکثریت مطلق هېوادوالو ستونزو او موضوعاتو ته رسېدنه کېږي او زموږ د ارزیابۍ او معلوماتو له مخې الحمدلله اوس مهال ولس پر محاکمو بشپړ باور لري او له کاره یې رضایت ښيي.

**نهمه پوښتنه:** شیخ صاحب د محاکمو مسؤولینو ته څه سپارښتنې لرئ؟

**ځواب:** د محاکمو مسؤولینو ته مو سپارښتنه داده چې د خلکو ستونزې او مشکلات د اسلامي اصولو او د اسلامي امارت د محاکمو اصولو ته په کتو سره حل او فصل کړي، هېڅ فشار دې په ځان نه مني، د هېڅ فرد تر تاثیر لاندې دې نه راځي او حق دې حقدار ته وسپاري؛ ځکه چې محکمه د عدالت ځای دی باید عدالت په کې تطبیق شي، حاضرۍ ته دې پابندي وکړي، په ټاکلي وخت دې دندو ته راځي او پر ټاکلي وخت دې بېرته ځي، وخت نا وخت دې د زندانیانو پوښتنه کوي، د ماتحت محاکمو او کارکوونکو د کارونو نظارت او څارنه دې کوي، د خلکو غږ دې واوري او خپلې ټولې چارې دې د اسلامي شریعت مطابق برابرې کړي.

**لسمه پوښتنه:** شیخ صاحب عام ولس ته څه پیغام لرئ؟

**ځواب:** عام ولس ته زما پیغام دادی چې پر محاکمو دې باور ولري، د محاکمو پرېکړو ته دې درناوی وکړي، که کوم مشکل ولري په اصولي ډول یې دې محکمې ته راجع کړي ترڅو د اسلامي شریعت مطابق وروسته رسېدنه وشي.

# گزارش اجراآت قضائی و اداری ستره محکمه طی ربع چهارم سال ۱۴۰۲هـ ش

## بخش اول

## فعالیت های قضائی

**قسمت اول: گزارش از اجراآت قضائی طی ربع چهارم سال ۱۴۰۲ هـ . ش دیوان های (۱۰) گانه تمیز ستره محکمه:**

دیوان های (۱۰) گانه ستره محکمه در مرحله تمیز (۵) دیوان آن در مرکز تحت اثر ریاست عالی تمیز زون مرکز و (۵) دیوان دیگر آن در زون جنوب غرب (کندهار) تحت اثر معاونیت قضائی زون کندهار فعالیت می نمایند که طی ربع چهارم سال۱۴۰۲ هـ . ش جمعاً به تعداد (۷۳۹۰ ) قضیه تحت کار دیوان های متذکره بوده که از جمله (۲۱۵۰) قضیه جزائی، ( ۳۲۱۲) قضیه مدنی، (۶۱۱) قضیه تجارتی و (۱۳۶) قضیه منسوبین نظامی می باشد که جزئیات آن در ذیل ارائه میگردد:

**الف - گزارش اجراآت قضائی دیوان های (۵) گانه ریاست عالی تمیز زون مرکز:**

**۱- گزارش اجراآت قضائی دیوان جزای تمیز زون مرکز:**

دیوان جزای تمیز زون مرکز طی ربع چهارم سال ۱۴۰۲ هـ . ش جمعاً به تعداد (۱۶۵۸) قضیه داشته که از جمله (۵۸) قضیه تائید، (۷۵) قضیه نقض، (۸۱ ) قضیه تعدیل، (۳ )قضیه فیصله، (۸) قضیه ذریعه مکتوب مسترد شده و (۱۴۳۳) قضیه دیگر آن تحت کار دیوان مذکور قرار دارد .

**۲- گزارش اجراآت قضائی دیوان امنیت عامه تمیز زون مرکز:**

در دیوان امنیت عامه تمیز زون مرکز طی ربع چهارم سال ۱۴۰۲ هـ . ش جمعاً به تعداد (۱۵۸ ) قضیه موجود بوده که از جمله (۳۹ ) قضیه تائید، (۲۰ ) قضیه نقض، (۳ ) قضیه فیصله، (۱۷ ) قضیه ذریعه مکتوب مسترد شده و (۷۹) قضیه دیگر آن تحت کار دیوان مذکور قرار دارد .

**۳- گزارش اجراآت قضائی دیوان جرایم منسوبین نظامی تمیز زون مرکز:**

دیوان منسوبین نظامی تمیز زون مرکز طی ربع چهارم سال ۱۴۰۲ هـ . ش جمعاً به تعداد (۸۸) قضیه داشته که از جمله (۲۵) قضیه ذریعه مکتوب مسترد شده و ( ۶۳) قضیه دیگر آن تحت کار دیوان مذکور قرار دارد .

**٤- گزارش اجراآت قضائی دیوان مدنی تمیز زون مرکز:**

دیوان مدنی تمیز زون مرکز طی ربع چهارم سال ۱۴۰۲ هـ . ش جمعاً به تعداد (۳۱۲۹ ) قضیه داشته که از جمله (۱۸) قضیه تائید، (۲۷۹) قضیه نقض، (٤٦ )قضیه قرار تعطیل

(۴۳۰) قضیه ذریعه مکتوب مسترد شده و (۲۳۵۶) قضیه دیگر آن تحت کار دیوان مذکور قرار دارد .

**۵- گزارش اجراآت قضائی دیوان رسیدگی به قضایای تجارتی تمیز زون مرکز:**

دیوان تجارتی تمیز زون مرکز طی ربع چهارم سال ۱۴۰۲ هـ . ش جمعاً به تعداد (۴۵۳) قضیه داشته که از جمله (۳۱) قضیه تائید، (۳۶ ) قضیه نقض، (٦ ) قضیه قرار تعطیل (٤) قضیه فیصله رسیده گی شده، ( ۷۹ ) قضیه ذریعه مکتوب مسترد شده و (۲۹۷) قضیه دیگر آن تحت کار دیوان مذکور قرار دارد .

**ب – گزارش اجراآت قضائی دیوان های (۵) گانه معاونیت قضائی زون جنوب غرب (کندهار):**

**۱- گزارش اجراآت قضائی دیوان جزاء تمیز معاونیت قضائی زون جنوب غرب (کندهار):**

در دیوان جزاء تمیز معاونیت قضائی زون جنوب غرب (کندهار) طی ربع چهارم سال ۱۴۰۲ هـ . ش جمعاً به تعداد (٤۹۲) قضیه موجود بوده که از جمله (۱۷) قضیه تائید، (٤٦) قضیه نقض، (۱) قضیه فیصله، (۱۴۷) قضیه ذریعه مکتوب مسترد شده و (۲۸۱) قضیه دیگر آن تحت کار دیوان مذکور قرار دارد .

**۲- گزارش اجراآت قضائی دیوان امنیت عامه تمیز معاونیت قضائی زون جنوب غرب (کندهار):**

دیوان امنیت عامه تمیز معاونیت قضائی زون جنوب غرب (کندهار) طی ربع چهارم سال ۱۴۰۲ هـ . ش جمعاً به تعداد (۲۲٦ ) قضیه داشته که از جمله (۹ ) قضیه تائید، (۱۸ ) قضیه نقض، (٤۸) قضیه فیصله (۷۳ ) قضیه ذریعه مکتوب مسترد شده و (۷۸) قضیه دیگر آن تحت کار دیوان مذکور قرار دارد .

**۳- گزارش اجراآت قضائی دیوان جرایم منسوبین نظامی تمیز معاونیت قضائی زون جنوب غرب (کندهار):**

دیوان منسوبین نظامی تمیز معاونیت قضائی زون جنوب غرب (کندهار) طی ربع چهارم سال ۱۴۰۲ هـ . ش جمعاً به تعداد (٤۸ ) قضیه داشته که از جمله (٤ ) قضیه تائید، (۱۵) قضیه نقض، (۱۸) قضیه ذریعه مکتوب مسترد شده و (۱۱) قضیه دیگر آن تحت کار دیوان مذکور قرار دارد .

**٤- گزارش اجراآت قضائی دیوان مدنی تمیز معاونیت قضائی زون جنوب غرب (کندهار):**

دیوان رسیدگی به قضایای مدنی تمیز معاونیت قضائی زون جنوب غرب (کندهار) طی ربع چهارم سال ۱۴۰۲ هـ . ش جمعاً به تعداد (۸۳۹) قضیه داشته که از جمله (۲۹) قضیه تائید، (۵۷) قضیه نقض، (٤۳) قضیه فیصله، (۱۲٦) قضیه ذریعه مکتوب مسترد شده و (۵۸٤ ) قضیه دیگر آن تحت کار دیوان مذکور قرار دارد .

**۵- گزارش اجراآت قضائی دیوان تجارتی تمیز معاونیت قضائی زون جنوب غرب (کندهار):**

دیوان رسیده گی به قضایای تجارتی تمیز معاونیت قضائی زون جنوب غرب (کندهار) طی ربع چهارم سال ۱۴۰۲ هـ . ش جمعاً به تعداد (۱۵۸) قضیه داشته که از جمله ( ۷ ) قضیه تائید، ( ٤٦ ) قضیه نقض، (۲۳) قضیه فیصله، (۲۷) قضیه ذریعه مکتوب مسترد شده و ( ۵۵) قضیه دیگر آن تحت کار دیوان مذکور قرار دارد .

**قسمت دوم: گزارش اجراآت قضائی دیوان های محاکم مرافعه (۳٤) ولایات کشور:**

به اساس راپورهای واصله دیوان های محاکم مرافعه (۳٤) ولایت کشور طی ربع چهارم سال ۱۴۰۲ هـ . ش جمعاً به تعداد (۱۳۸۱۹ ) قضیه داشته اند: از جمله (۲۸۱۲) قضیه جزائی، (۸٤۸۸) قضیه مدنی، ( ۷۹٦ ) قضیه تجارتی، (۲۹۳) قضیه منسوبین نظامی و (۱٤۳۰) قضیه امنیت عامه می باشد که جزئیات آن در ذیل ارائه میگردد:

**گزارش اجراآت قضائی دیوان های جزاء محاکم مرافعه (۳٤) ولایت:**

دیوان های جزاء محاکم مرافعه (۳٤) ولایت طی ربع چهارم سال ۱۴۰۲ هـ . ش جمعاً به تعداد (۲۸۱۲) قضیه

داشته که از جمله (۲۱۳) قضیه ذریعه مکتوب مسترد شده، (۱۰۶۲) قضیه ذریعه قرار قضائی، (٤٧٢) قضیه ذریعه فیصله رسیده گی شده، (۱۰٦٥) قضیه دیگر آن تحت کار دیوان های مذکور قرار دارد .

**گزارش اجراآت قضائی دیوان های امنیت عامه محاکم مرافعه (٣٤) ولایت:**

دیوان های امنیت عامه محاکم مرافعه (٣٤) ولایت طی ربع چهارم سال ۱٤۰۲ هـ . ش جمعاً به تعداد (۱٤٣۰ ) قضیه داشته که از جمله (١٦٤ ) قضیه ذریعه مکتوب مسترد شده، (۷۱۱ ) قضیه ذریعه قرار قضائی رسیده گی شده، (۲۲۱ ) قضیه فیصله شده، (٣٣٤ ) قضیه دیگر آن تحت کار دیوان های مذکور قرار دارد .

**گزارش اجراآت قضائی دیوان های منسوبین نظامی محاکم مرافعه (٦) ولایت درجه اول:**

دیوان های منسوبین نظامی محاکم مرافعه طی ربع چهارم سال ۱٤۰۲ هـ . ش جمعاً به تعداد (۲۹۳ ) قضیه داشته که از جمله (۱۳ ) قضیه ذریعه مکتوب مسترد شده، ( ۱۰۵ ) قضیه ذریعه قرار قضائی رسیده گی شده، (۳۰ ) قضیه فیصله شده، (۱٤٥ ) قضیه دیگر آن تحت کار دیوان های مذکور قرار دارد .

**گزارش اجراآت قضائی دیوان های مدنی محاکم مرافعه (٣٤) ولایت:**

در دیوان های رسیدگی به قضایای مدنی محاکم مرافعه طی ربع سوم سال ۱٤۰۲ هـ . ش جمعاً به تعداد (۸٤۸۸) وارد شده که از جمله (٦٩١ ) قضیه ذریعه مکتوب مسترد شده، ( ۲٤۰٤ ) قضیه ذریعه قرار قضائی رسیده گی شده، (٤٢٦ ) قضیه فیصله شده و (٤٩٦٧ ) قضیه دیگر آن تحت کار دیوان های مذکور قرار دارد .

**گزارش اجراآت قضائی دیوان های تجارتی محاکم مرافعه (٦) ولایت درجه اول:**

دیوان های رسیده گی به قضایای تجارتی محاکم مرافعه طی ربع سوم سال ۱٤۰۲ هـ . ش جمعاً به تعداد ( ۷۹٦ ) قضیه داشته که از جمله (۸٤ ) قضیه ذریعه مکتوب مسترد شده، (۳۰٤ ) قضیه ذریعه قرار قضائی رسیده گی شده، (٣٦) قضیه فیصله شده و (۳۷۲ ) قضیه دیگر آن تحت کار دیوان های مذکور قرار دارد .

**گزارش اجراآت ریاست تعلیمات قضائی و مستشارین ) معاونیت قضائی زون جنوب غرب (کندهار):**

طی ربع چهارم سال ۱٤۰۲ هـ . ش به تعداد (۱٤۱ ) دوسیه به مستشاران این ریاست در مرحله تمیز مواصلت ورزیده بود که از جمله (۲۷) قضیه نقض، (۱۷) قضیه تائید، (۹ ) قضیه آن ذریعه مکتوب مسترد گردیده و (۸۸) قضیه دیگر آن تحت کار قرار دارد .

**قسمت سوم: گزارش اجراآت قضائی دیوان های محاکم ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیه ولسوالی های (٣٤) ولایت:**

به اساس راپورهای واصله دیوان های محاکم ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیه ولسوالی های (٣٤) ولایت کشور طی ربع چهارم سال ۱٤۰۲ جمعاً به تعداد ( ۹۱۹۹۱ ) قضیه در محاکم متذکره موجود بوده که از جمله (۱٥٥٣٤) قضیه جزائی، (٦۰۸٥) قضیه امنیت عامه، (٥١٧٥١) قضیه مدنی و حقوقی، (۱۳٦۰٦ ) قضیه تجارتی، (۱۳۱٦) قضیه ترافیکی، (۲۲٤٤) قضیه منسوبین نظامی، (۱٤۳۳) قضیه مواد مخدر و (۲۲) قضیه جلو گیری از غصب املاک دولتی می باشد که جزئیات آن در ذیل ارائه میگردد:

گزارش اجراآت قضائی دیوان های جزاء محاکم ابتدائیه شهری و قضایای جزائی محاکم ابتدائیه ولسوالی های (٣٤) ولایت:

دیوان های جزاء محاکم ابتدائیه شهری و بخش جزائی محاکم ابتدائیه ولسوالی های (٣٤) ولایت طی ربع چهارم سال ۱٤۰۲ هـ . ش جمعاً به تعداد (۱٥٥٣٤) قضیه داشته که از جمله (٥۱۲ ) قضیه ذریعه مکتوب مستردشده، (۳٥۳۰) قضیه ذریعه قرار قضائی رسیده گی شده، ( ٥۷۷۰) قضیه فیصله شده و (٥۷۲۲) قضیه دیگر آن

تحت کار محاکم مذکور قرار دارد .

**گزارش اجراآت قضائی دیوان های امنیت عامه محاکم ابتدائیه شهری (۳٤) ولایت:**

در دیوان های امنیت عامه محاکم ابتدائیه شهری (۳٤) ولایت طی ربع چهارم سال ۱٤۰۲ هـ . ش جمعاً به تعداد (٦۰۸٥ ) قضیه موجود بوده که از جمله (۲٦۰) قضیه ذریعه مکتوب مسترد شده، (۹۳٦ ) قضیه ذریعه قرار قضائی رسیده گی شده، ( ۱۹٤۳) قضیه فیصله شده و (۲۹٤٦ ) قضیه دیگر آن تحت کار دیوان های مذکور قرار دارد .

**گزارش اجراآت قضائی دیوان های ترافیکی محاکم ابتدائیه شهری(۳۰) ولایت:**

دیوان های ترافیکی محاکم ابتدائیه شهری (۳۰) ولایت طی ربع چهارم سال ۱٤۰۲ هـ . ش جمعاً به تعداد (۱۳۱٦) قضیه داشته که از جمله ( ٥۲) قضیه ذریعه مکتوب مسترد شده، (۲۸۸) قضیه ذریعه قرار قضائی رسیده گی شده، ( ۳۸۰) قضیه فیصله شده و (٥۹٦ ) قضیه دیگر آن تحت کار دیوان های مذکور قرار دارد .

**گزارش اجراآت قضائی محاکم ابتدائیه منسوبین نظامی (۱۰) ولایات زون کشور:**

محاکم ابتدائیه منسوبین نظامی (۱۰) ولایات زون کشور طی ربع چهارم سال ۱٤۰۲ هـ . ش جمعاً به تعداد ( ۲۲٤٤ ) قضیه داشته که از جمله ( ۱٤۳ ) قضیه ذریعه مکتوب مسترد شده، ( ٤٤٦ ) قضیه ذریعه قرار قضائی رسیده گی شده، (٦۹۱) قضیه فیصله و (۹٤٤ ) قضیه دیگر آن تحت کار محاکم مذکور قرار دارد .

**محکمه ابتدائیه اختصاصی مواد مخدر ولایت کابل:**

در محکمه ابتدائیه اختصاصی مواد مخدر ولایت کابل طی ربع چهارم سال ۱٤۰۲ هـ . ش جمعاً به تعداد ( ۱٤۳۳) قضیه موجود بوده که از جمله (٤) قضیه ذریعه قرار قضائی رسیده گی شده، (٤۷۲ ) قضیه فیصله شده و (۹٥۷) قضیه دیگر آن تحت کار محکمه مذکور قرار دارد .

**محکمه ابتدائیه اختصاصی جلوگیری از غصب زمین ها و استرداد زمین های غصب شده دولتی :**

در محکمه ابتدائیه اختصاصی جلوگیری از غصب زمین ها و استرداد زمین های غصب شده دولتی طی ربع چهارم سال ۱٤۰۲ هـ . ش جمعاً به تعداد (۲۲) قضیه موجود بوده که از جمله (٦) قضیه ذریعه مکتوب مسترد شده، (۱) قضیه ذریعه قرار قضائی، (۲) قضیه فیصله شده و (۱۳) قضیه دیگر آن تحت کار محکمه مذکور قرار دارد.

**گزارش اجراآت قضائی دیوان های مدنی محاکم ابتدائیه شهری و قضایای حقوقی محاکم ابتدائیه ولسوالی های (۳٤) ولایت:**

در دیوان های مدنی محاکم ابتدائیه شهری و بخش حقوقی محاکم ابتدائیه ولسوالی های (۳٤) ولایت طی ربع چهارم سال ۱٤۰۲ هـ . ش جمعاً به تعداد (٥۱۷٥۱) قضیه موجود بوده که از جمله (۱۹۰۸) قضیه ذریعه مکتوب مسترد شده، (۱۳٥۰۲) قضیه ذریعه قرار قضائی رسیده گی شده، (٥۹٥۰) قضیه فیصله شده و (۳۰۳۹۱) قضیه دیگر آن تحت کار دیوان های مذکور قرار دارد .

**گزارش اجراآت قضائی دیوان های تجارتی محاکم ابتدائیه شهری (٦) ولایت درجه اول و (۱) ولایت درجه دوم :**

در دیوان های تجارتی محاکم ابتدائیه شهری (٦) ولایت درجه اول و (۱) ولایت درجه دوم طی ربع چهارم سال ۱٤۰۲ هـ . ش جمعاً به تعداد (۱۳٦۰٦) قضیه موجود بوده که از جمله (٤۳۲) قضیه ذریعه مکتوب مسترد شده، (۲۳٤۰) قضیه ذریعه قرار قضائی رسیده گی شده، (۸۰۰) قضیه فیصله شده و (۱۰۳٤) قضیه دیگر آن تحت کار دیوان های مذکور قرار دارد .

**قسمت چهارم: بخش وثایق:**

تعداد و انواع وثایق اجراء شده در آمریت های وثایق، دیوان های مدنی، تجارتی و محاکم ابتدائیه ولسوالی های ولایات کشور طی ربع چهارم سال ۱۴۰۲ هـ . ش مطابق به (۱۴٤٥/٦/۹ – ۱۴٤٥/۹/۹) هـ . ق .

| شماره | نوع وثیقه | تعداد وثایق | ملاحظات |
|---|---|---|---|
| ۱ | قباله قطعی | ۹٦۸ | |
| ۲ | قباله دولتی | ۸۳ | |
| ۳ | طلاق خط | ۲۳۹ | |
| ٤ | اصلاح خط | ۸٤۷ | |
| ٥ | خلع خط | ۳٥ | |
| ٦ | نکاح خط | ۱۷۷٦۷ | |
| ۷ | وکالت خط | ۱۱٥٤۳ | |
| ۸ | اقرار خط | ۳۹۱۳ | |
| ۹ | وصایت خط | ۳۲۳٤ | |
| ۱۰ | نفقه خط | ۲۳ | |
| ۱۱ | ابراء خط | ۳۰٦ | |
| ۱۲ | ضمانت خط | ٦۰٦ | |
| ۱۳ | ترکه خط | ۱۱ | |
| ۱٤ | مثنی خط | ۲٥۸ | |
| ۱٥ | حصر وراثت خط | ۳٤۰۹ | |
| ۱٦ | رسید خط | ۳۳ | |
| ۱۷ | قیم خط | ۸۰ | |
| ۱۸ | حجت خط | ۱٤ | |
| ۱۹ | رضایت خط | ۱۷ | |
| ۲۰ | تملیک خط | ۳۸ | |
| ۲۱ | تقسیم خط | ۲۹ | |
| ۲۲ | زوجیت خط | ۱٤۰ | |
| ۲٤ | اجاره خط | ۳ | |
| ۲٥ | لاجایدادی | ٤٥ | |
| ۲٦ | محرم خط | ۷۰ | |
| ۲۷ | تضمین خط | ۱۱٦ | |
| ۲۸ | انصراف خط | ۹ | |
| ۲۹ | قرار داد خط | ۲۲ | |
| مجموع | | ٤۳۸٦٥ | |

## قسمت پنجم: تعداد قضایای موجود و وثایق اجراء شده

جدول توحیدی تعداد قضایای جزائی و حقوقی در مرحله ابتدائیه، مرافعه و وثایق اجراء شده در هر ولایت کشور با در نظر داشت پرکار و کم کار بودن محاکم طی ربع چهارم سال ١٤٠٢ هـ . ش مطابق به (١٤٤٥/٦/٩ – ١٤٤٥/٩/٩) هـ . ق .

| شماره | ولایات | مجموع قضایا | قضایای رسیده گی شده | | | قضایای باقی مانده | تعداد وثایق اجراء شده |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | مسترد مکتوبی | قرارقضائی | فیصله شده | | |
| ١ | ولایت کابل | ٢٣٤٩٩ | ٨٠٤ | ٣٧١١ | ٣٠٧٠ | ١٥٩١٤ | ٩٢٤٤ |
| ٢ | ولایت هرات | ٨٧٥٣ | ٤٤٩ | ١٦٤١ | ١٤٨٢ | ٥١٨١ | ٣٤٩١ |
| ٣ | ولایت بلخ | ٧٠٩٩ | ٣٦٢ | ١٧٤٥ | ٩٢٦ | ٤٠٦٦ | ٢١٥٥ |
| ٤ | ولایت کندز | ٧٠١٣ | ١٢٣ | ١٣٣٣ | ٦٦٧ | ٤٨٩٠ | ١٨٨٥ |
| ٥ | ولایت ننگرهار | ٦٤٣٤ | ١٧٤ | ١١٣٣ | ٩٥٣ | ٤١٧٤ | ٩٧٤ |
| ٦ | ولایت تخار | ٥١٩٦ | ١٩٢ | ١٤٩١ | ٨٠٤ | ٢٧٠٩ | ١٥١١ |
| ٧ | ولایت بغلان | ٤٥٣٧ | ١٣٢ | ١٧٣٠ | ٤٤٢ | ٢٢٣٣ | ٨٧٢ |
